# لونګین

لیکوال

باز محمد عابد

WWW.SAMSOOR.COM

# د عابد کلتوري او هنري راپورونه

د فعال اديب بازمحمد عابد د هنري راپورونو ټولګه مې تر لوستو وروسته بيا راخستې، غواړم له هغو ډېرو خبرو څو له تاسې سره شريکې کړم چې ماله دې ټولګې اخستي. لومړی راپور يې دی "پېښور په سندرو کې".

دا زما لپاره يو احساساتي سرليک دی، ځکه چې زما د ژوند ښه او ډېره برخه له دغې سيمې سره تړلې پاتې شوې ده. خو زه بايد درته د عابد پر پنځونو خبرې وکړم، بيا به پېښور ته ځو.

دا راپورونه په آره مانا هنري دي، موږ په رسنيو کې يو شمېر داسې خلک وينو چې هنرمندان نه دي خو د هنر په اړه راپورونه چمتو کوي، دا راپورونه په لويه ولکه کې هنري دي، خو په ځانګړې مانا هنري نه بلکې ژورناليستيک دي، ځکه چې هر خبريال يې جوړولای

شي، څو که هنرمند د رسنیو لپاره هنري راپورونه ولیکي هغه په دواړو ماناو کې هنري راپورونه دي.

د عابد صیب د پیل په راپور کې د یوې سندرې سره تړلې برخه لولو:

«کله چې کومه کلیوالـه مئینـه لـه خپـل مئین نـه د سینګار لپاره غوښتنه کوي، کـه خپلـه چوپـه هـم وي نـو د کشور سلطان په خوله ګویانه شي، داچې هغه د کشور سلطان په خوله ګویانه شي» د تغزل لور پورې دی، پسرلي صاحب راته یو وخت ویلي و چې څوک ښه غزل لیکي هغه هر څه ښه لیکلای شي، او لا چې ښه کیسه هم ولیکي بیا خو خبره بیخي جوړه ده، ځکه چې په انګریزۍ کې راپور او کیسې دواړو ته Story وایي.

د عابد تر مخکې تیرې شوې جملې وروسته نو بیا د هنر یوه تللې بلبله د پېښور د ګلو دا سندره بولي:

که په همزولو کې مې ګورې
فرهت په تبۍ تور د باجوړ ګلونه
وئ میده میده لکه د زرکې تګ کومه
کمیس تور ماته راوړه
تازه تازه ګلونه درې څلور ماته راوړه
لاړشه پېښور ته کمیس تور ماته راوړه

تازه تازه ګلونه درې څلور ماته راوړه.

بازلیکي:

«او کله چې د پېښور دا ښکلا بدرنګو ونه شوه زغملی نو یو ځل بیا فضل سبحان عابد راپورته شو او د لر بر پښتنو د زړه ناره یې د حشمت سحر له خولې وایسته:»

په پېښور کې پرهر مه جوړوئ
لا د کابل پرهر ورغلی نه دی
دلته لا بل د وینو جام ډکوې
هغه ډک جام دې لاګوټلی نه دی
په پېښور کې پرهر مه جوړوئ
وه په پېښور کې پرهر مه جوړوئ

عابد صیب د ګڼو کلتوري ارزښتونو په اړه راپورونه چمتو کړي دي، د بېلګې په ډول، د رنجو کلتوري ارزښت، شین خال، د چیندرو لوبه، پېزوان، ډولۍ، افغاني ګنډه کمیس او نور.

تر دې چې عابد صیب پر مازیګر هم یو زړه راښکونکی هنري راپور لیکلی. دا ماته ډېر په زړه پورې و، له مازیګر سره ډېر زرین هنري کړه وړه تړلي دي، خو حیرانونکې ده پر دې اړه مې راپور نه وو

اوربدلی. مازیګر که له یوه پلوه مذهبي ارزښت لري، له بلې خوا ښکلا یز ارزښت یې هم ستر ګې بریښوي، په قرآن کې الله تعالی وایي (والعصر) تفسیرونکي له عصر نه مازیګر یا زمانه مانا اخلي نو چې خدای پرې سوګند کوي اسماني ارزښت به یې څوک وتلي؟

همدا راز ویل کېږي چې د مازیګر پر مهال د ځمکې پرښتې بدلېږي او لمونځ یې هم د نورو لمونځونو ساتونکی بدل شوی دی. ښایي همدا یې لاملونه وي چې پښتانه وایي:

مازیګری دی ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رښتیا به شینه

خو دا یو اړخ و. مازیګر ګودر ته د تللو وخت دی. هغه مهال چې شفق نرۍ ته زرین رنګ ورکړي ډله ډله نجونې ګودر ته ځي، او دا چې د پښتنو ټولنه یوه تړلې ټولنه ده نو دا وخت د دیدنو وخت دی.

مازیګر ښه دی دیدن کېږي
ورکه غرمه شه لیلی کور کوي خوبونه

مازیګر د ختونو زرین تاج دی چې وړانګې یې په سندرو، انځورونو، او خیالونو خپرې دي او د عابد صیب هنر پېژندونکی ذوق د ستاینې دې چې دا

ارزښت يې هم ارزولی دی.

دا ټول زمونږ کلتوري ارزښتونه او ورسره تړلي توکي دي. د دې خوندي کول خورا ډېر ارزښت لري. ځکه چې له دغو ارزښتونو او توکيو يو شمير اوس شته او يو شمېر يې نه. د عابد صيب په څير د هر باشعوره انسان دنده جوړېږي چې ګټور مړه بيا راژوندي کوي او ژوندي يې پر مخ بوځي.

عابد صيب دا مسيحايي په ښه توګه کړې ده. خو يوه خبره بله هم کول غواړم او هغه دا که دا توکي او ارزښتونه د ژوند له ډګره وځي، دا به شوني وي.

خو د شعر او ادب په ډګر کې به تل ژوندي وي، ځکه مونږ دا دودونه او پسولونه له زرګونو کلونو راهيسي کارولي، زمونږ د وينې برخه ګرځېدلي او په لاشعور کې يې ځای موندلی. او چې دا سې ده نو راروان نسلونه به هم دا هرڅهٔ پيژني او د لا ډېر پيژند ګلوئ لپاره به د عابد صيب کتاب ته مخه کوي. دا چې زه خبريال يم نو د عابد صاحب د تدارک يوه بله خبره هم بايد وکړم او هغه دا چې دغه پسول شوي توکي، تر ډيره په ښځو پورې اړوند دي. ليکنی، خبريالي اسانه ده خو په غړيزه خبريالی، کې غړونو ته بنستيزه اړتيا وي. د عابد صيب

ستایل په کار دي، چې دې ټولو ته یې د ښځو غږونه پیدا کړي دي، چې دې چارې د عابد صیب کارته خیر نیز ارزښت ورکړی دی.

د عابد صیب پر کتاب، کتاب لیکل کیدای شي خو زه به ډېر ستاسې لوستونکو او کتاب ترمنځ دیوال نه جوړېږم. زما د عابد صیب کتاب ډیر خوښ شو خو یوه خبره که د نظر ماتې لپاره وکړم، ای کاش ددغو دودونو، پسولونو او ارزښتونو د مخینې او تاریخ په اړه هم څو جملې وای.

خیر دا روانې چارې دي عابد صیب چې همدومره وکړي ډیره ده ګوندې سبا څوک ددغو ارزښتونو په مخینې پسې هم پیڅې پورته کړي او متې بډ وهي.

په مینه او درنښت

مصطفی سالک

# د کلتوري ایمپیریالیزم پر وړاندې مبارزه

کلتور دوه اړخه لري. یو یې مادي هغه دی او بل غیر مادي. په مادي اړخ کې یې له کور، ګاونډ، ښوونځي، جومات، درمسال، دفتر، کلي، ښاره واخله تر موټر، الوتکې، کمپیوټر او موبایل ټیلي فونه هر څه راځي. غیر مادي کلتور، د ټولنې د وګړو عادتونه، عقیدې، کړه وړه، ژوند ژواک، ژبه، دین او ارزښتونه وغیره راځي. مادي او غیر مادي دواړه بڼې یا اړخونه، له یو بل سره تړلي دي او پر یو بل اغېز لري.

د کلتور مادي اړخ په دودونو، رواجونو او عادتونو کې د بدلون لامل ګرځي؛ لکه د شلمې او یوویشتمې پېړۍ له تخنیکي ایجاداتو سره د افغانانو په دودونو او رواجونو کې هم ډېر بدلونونه راغلل. همدا راز، کله کله دودونه دومره زورور وي چې په نوره نړۍ کې د مادي او یا غیر مادي دواړو کلتوري بڼو پر ضد ولاړېږي. که څه هم پر ښځو زور زیاتی د عربانو دود دی

او د افغانـانو هغـه نـه دی خـو پـه افغانـانو کـې لـه پخـوا راهيســې رواج شــوی دی او د نــوي عصــر تــر بــد لونونو وروسته نـن هـم افغـانې ښـځې هـومره ازادې نـه دي چې پـه کـار وه. بلـې خـوا تـه بيـا داسـې دودونـه دي، رواجونـه دي چـې د افغانـانو د اصـلي او ريښـتيني کلتـور ښـکارندويي کـوي او هغــه پــه ورکېــدو دي. همــدا راز، داســې مــادي کلتوري شيان دي چې هغه هم په ورکېدو دي.

افغانـان پـه دې ويـاړي چـې د بشـري تمـدن لـه لومړيـو هغـو دوی هـم دي، مانـا دا چـې افغانـان هـم لـه پينځـه واخلـه ۲۰۰۰ کالــه تــاريخ لــري. د ټولنپــوهنې او لرغونپــوهنې کتابونــه ښــيي چــې مدنيتونــه پينځــه يــا شــپږ زره کالــه تــاريخ لـري. لـه دې پرتـه انسـاني تـاريخ لسـګونه زره کالـه پخــوانی دی. د بشــري جينونــو (Genes) ســفر يــوه مطالعــه ښـيي۱، د افغانسـتان پـه شـمال کـې د پـامير غرونـو پـه لمـن کـې لسـګونه زره کالـه پخـوا انسـانان اوسېدل چې بيـا يـې څـه شـمال - ختـيځ تـه وکوچېدل، څـه جنـوب تـه لاړل او څـه هــم شــمال - لويــديځ لــوري تــه. يــانې کلــه چــې مــوږ د افغانســتان د ۵۰۰۰ کــالونو د تــاريخ خبــره کــوو نــو د دې دا مانـا نـه وي چـې ګـواکې پينځـه زره کالـه مخکـې خلـک دې خـاورې تـه راغلـل او د بـاختر يـا اريانـا پـه نـوم يـې دلتـه

هیواد جوړ کړ. بلکې ریښتیا دا دي چې هغه کسان چې اوس افغانان بلل کېږي هغه د همدې خاورې اصلي اوسېدونکي دي.

نو په تاریخي توګه خو موږ دا زباتولای شو چې افغانان دومره زړه سابقه لري. په دې ترڅ کې موږ لرغوني اثار هم لرو. خو په کلتوري توګه، د افغانانو دودونه، عادتونه، کره وړه، لباس، ټولنیز ارزښتونه دا هر څه له پلرونو، بچیو ته له وخت سره منتقل شوي دي خو موږ یې د کره والي په اړه اکثر یو شمېر ستونزې لرو. د بېلګې په توګه، افغانان په بدو کې ښځې ورکوي او دا د افغانیت یا پښتونولۍ د غیر رسمي قانون یوه برخه بولي. زه په بدو کې د ښځو ورکول په هیڅ صورت د افغانانو دود نه بولم. زما دریځ او دلیل دا دی چې دا د عربانو دود دی چې په افغانانو کې هم رواج شوی دی. همدا راز، د غیرت په نوم د ښځو وژنه هم د افغانانو دود نه دی.

که موږ تاریخ ولولو نو دا په ډېرو کتابونو کې لیکل شوي چې د اسلام تر محمدي (ص) ظهور[1] مخکې به

[1] زه ورته محمدي ظهور ځکه وایم چې د اسلامي کتابونو له وینا سره سم، اسلام له آدم علیه السلامه پیل شوی دی او دا دین پر حضرت محمد (ص) بشپړ شو. په قران کې هم داسې خبره راغلې چې دین بشپړ شو.

عربانو نه يوازې د غيرت او شرم له وجې خپلې نوې پيدا شوې لوڼه ژوندۍ په ځمکه کې ښخولې بلکې ښځې به خرڅېدې، د ډالۍ په توګه به ورکول کېدې او د جنګونو په صورت کې به د مينځو په توګه ساتل کېدې. د عربانو له پاره دا د شرم خبره وه چې لوڼه يې بل کس ته واده شي نو ځکه يې له زېږون سره سمې ښخولې. د پيغمبر له راتګ سره دا دود ورک شو. خو ريښتيا دا دي چې د پيغمبر(ص) تر مړينې وروسته، تاريخ ښيي، چې کله اسلامي نظريه نورو هيوادونو ته تلله او عربانو پر نورو هيوادونو حملې کولې او هلته يې اسلام خپراوه نو دا دود يې هم له ځانه سره يووړ. دا يو حقيقت دی چې دودونه دومره په اسانۍ نه ختمېږي. د پيغمبر(ص) او خلفاء تر مړينې وروسته، عربانو خپل دودونه بيرته ژوندي کړل. ان دا چې د پيغمبر تر مړينې سمدستي وروسته عربان ياغي شول او بيا ابو بکر صديق (رض) د هغوی پر ضد وجنګېد. خو هر ځای چې عربانو اسلام وړی دی هلته يې د دې دين په نامه خپل دودونه هم پر خلکو پلي کړي دي. که نه دا حقيقت دی چې له افغانې خاورې پيدا شوي ديني کتابونه لکه اويستا او داسې نور ټول ښځو ته يو ځانګړی مقام او ځای ورکوي. افغانانو به د خپلو ښځو دومره درناوی

کاوه چې نوم به يې نه اخيسته. بل د افغانانو ټولنه ډېره ازاد يپالـه هغـه وه. ټپـې او کـاکړۍ غـاړې لـه نيمـو زيـاتې ښـځو ويلـې دي او شـاعرانې يې ځکـه ګمنـامې پـاتې شـوې دي چې د ښـځو نـوم اخيسـتل بده خبره ګڼل کېده او تـل بـه ورتـه درنـاوی کېـده. ټپـې او غـاړې خـو ډېـرې پخـوانۍ دي. دا شـا و خـوا ۱۳۰ کالـه مخکـې، د انګلـيس- افغـان جګـړې پـر مهـال د پېغلـې ملالـۍ ټپـه هـر کـس تـه يـاده ده. تـر دې مخکـې نـازو انـا هـم ټولـو تـه يـاده ده. د ملالـۍ پـه خبـر نـن يـوه پېغلـه خپـل نـامزاد يـا مـين تـه داسې ټپـه د ټـول ولـس مخـامخ نشـي ويـلای. نـو د ازادۍ تـر دې لـوی ثبـوت بـل څـه کېدای شي؟

همـــدا راز، اکثـــر دا ويــــل کېــــږي چــــې ولســـواکي (ډيموکراسـي) د افغانـانو لـه پـاره نـوې خبـره ده. دا هـم ناسـمه ده. لويـه جرګـه د ډيموکراسـۍ يـو ډول دی. جـان کـين پـه خپـل کتـاب[2] کـې د لرغـونې ډيموکراسـۍ يـا ولسـواکۍ قسـمونه ليکلـي دي. پـه هغـو کـې يـو اسـمبلي ډيموکراسـي[3] نـومېږي. د جـان کـين پـه کتـاب کـې راغلـي، پـه پخـواني يونـان کـې بـه لـه هـرې سـيمې کسـان ايتنـز تـه ورتلـل او هلتـه بـه يـې د خپلـو دولتونـو او د بـېلا بېلـو

[2] Kean, John: ''The Life And Death of Democracy'', London: Simon & Schuster, 2009.
[3] Assembly Democracy

مسلو په اړه وینا ګانې او بحثونه کول. لویه جرګه هم دې ته ورته ده. د هرې سیمې د ولس لخوا ټاکل شوي استازي یو مرکز ته ورځي او پر یوې لویې مسلې خبرې کوي او د هغې د حل لارې لټوي. زه لویه جرګه د اسمبلي ډیموکراسۍ پرتله ښه نظام او دود بولم. ځکه چې دا ډېره ارزانه وي. د اسمبلي ډیموکراسۍ استازو به تنخا اخیسته او په دفترونو کې به یې کار کاوه. د لویې جرګې استازي هره میاشت نه تنخا اخلي او نه په دفترونو کې کار کوي؛ یانې پر دې کسانو د ولس ګټلې پیسې نه لګول کېږي.

د پردیو کلتوري ارزښتونو افغانستان ته راتګ او رواجېدلو افغانان، په ټولنیزه توګه، غلامان کړي دي. په دې کې تر ټولو لویه ونډه د عربي ارزښتونو دود پېدل دي. زیاتره مترقي او ازادیپاله ارزښتونه چې له متمدنو هیوادونو راغلي هغوی په افغانستان کې ستونزه نه ده پیدا کړې بلکې، د عربي ارزښتونو تنګ نظرۍ افغانان له عصري تهذیبي ژوند ه لرې کړي دي او افغانان یې پر ضد مقاومت ښیي. د عربي ارزښتونو په دې توګه پر افغانانو تپل کېدو ته زه کلتوري پانګواکي (ایمپیریالېزم) وایم. دې ایمپیریالېزم افغاني ټولنه

ناروغه کړې ده. دې ایمپیریالیزم د دین په سپېڅلې نامه، د بې طرفه ښوونې، روزنې او پوهنې عمل درولای دی، همدا لامل دی چې افغانان نه خو خپل اصلي کلتور ته ورستنېدای شي او نه هم، د وخت له غوښتنو سره سم، په خپله ټولنه کې د پرمختګ بدلونونه راوستای شي.

په دې صورت کې، په افغانستان کې د ټولنیزو علومو اکاډیمیکانو، لیکوالانو او ادیبانو پر اوږو یو لوی بار دی او دا یې دنده ده چې باید دوی د ټولنې ننني ځېره هم ولس ته وښيي، د دوی ټولنیزه ناروغي هم ور په ګوته کړي او دا هم ورته ووایي چې ډېر داسې کارونه چې دوی یې کوي هغه له آره افغاني نه دي. دا عالمان همدا راز باید ولس ته وښيي چې ډېر داسې عادتونه او دودونه چې افغانانو د (نا اسلامي دودونو) تر ټاپو وروسته پرېښي له هغو سره د دین په توګه، د اسلام کار نشته او نه هم هغه نا اسلامي دي. د بېلګې په توګه، په دې کتاب کې چې تاسې یې اوس لولئ، یو مضمون د خال په اړه دی. د کتاب خبرونکي او لیکوال ته یوه دینپوه ویلي چې خال وهل ګناه ده. زما په اند، په افغاني ټولنه کې د خال وهلو موخه یوازې او یوازې

سینګاروه. نو سینګار خو له جمالیاتو سره تړلی دی او جمالیات د خدای هم ډېر خوښ دي ځکه خو یې د اسمان پر مخ خالونه وهلي دي. زه په دې پوه یم چې دې دینپوه چې د کتاب لیکوال ته خبره کړې ده هغه خبره یې له سیاقه وتلې ده.

د خپلو دودونو بیا ژوندي کول، د خپلې ټولنې اصلي څېره ولس ته ښودل، او د خپلې ټولنې ناروغي (یا ناروغی) ښکاره کول، دا هغه څه دي چې هڅه یې باز محمد عابد په دې څېړنه کې کړې ده. که څه هم د عابد دا څېړنه د اوسمهاله نړیوالو اکاډیمیکو څېړنو په څېر نه ده خو زه د عابد له محدودیتونو خبر یم. لکه څنګه چې ما پورته لیکلي، د دودونو ورکېدل، کلتوري ایمپیریالېزم او د بې طرفه، اوبجیکټیف (Objective) تعلیم نشتوالی د دې لامل شوی چې افغانان د خپلو ارزښتونو او لرغوني او اصلي ژوند، ژواک پاخه ثبوتونه نه لري او زیاتره د پلرونو، نیکونو پر ویناوو، کړنو، او پر ټپو او کاکړیو غاړو تکیه وي چې خپل کلتوري ارزښتونه وپېژني او خلکو ته یې هم ور وښیي؛ نو همدا محدودیت د افغانستان د اکاډیمیکانو مخې ته هم دی او د عابد مخې ته هم وو. همدا لامل دی چې په دې کتاب کې به تاسې وګورئ

چې عابد زياتره موضوعات له ولسي سندرو پيل کړي دي او په زياتره موضوعاتو کې يې، د خپلې خبرې زباتولو له پاره، له ټپو هم مرسته اخيستې ده.
دا کتاب، زما په اند د معاصر افغانستان په ښېرنيزو کتابونو کې د ارزښت وړ دی. دا يو اوبجيکټيف کتاب دی او موضوعات په کې په متوازنه توګه څېړل شوي دي. لکه په کتاب کې له مشرانو سره خبرې شوې دي چې په کې ښځې هم شاملې دي، د پوهنتون له استادانو سره وربانديې بحث شوی، له ځوانو نجونو او هلکانو سره هم وربانديې خبرې شوې دی، په ځينو ځايونو کې د اړتيا پر اساس له دينپوهانو سره هم ځانګړي موضوعات څېړل شوي دي او په اکثره ځايونو کې عابد خپله خبره پر خلکو نه ده تپلې بلکې د ثبوت له پاره يې له لرغونو کيسو او ټپو کار اخيستای دی. په دې توګه دا کتاب بې طرفي ښيي او لوستونکو ته د قضاوت موقع ورکوي.
د کتاب بله ځانګړتيا دا ده چې په کې پوره هڅه شوې ده چې د اصلي افغاني کلتور پر لوري يو سفر وشي او ځينې کلتوري ارزښتونه له ورکېدو او مرګه وژغورل شي. زما په اند ، د اصلي او خالص افغاني کلتور را ژوندي کول او دودول افغان ولس له ډېرو بدبختيو او مسلو خلاصولای شي.

دا کتــاب د کلتـــوري ایمپیریـــالېزم او د کلتـــوري معـدومیت پـر وړانـدې د مبـارزې مانـا هـم لـري چـې ډېـرى ټولنپوهان یې دا مهال د وخت ضرورت بولي.

د دې کتـاب پـه اړه یـوه بلـه مهمـه خبـره دا ده چـې دا بـه تـر ننـه وروسـته د حـوالې یـا (Reference) پـه توګـه کـارېږي. تـر ننـه وروسـته بـه د خپلـو ارزښـتونو او دودونـو د کـره والـي او د هغـوى د وجـود زبـاتولو لـه پـاره د ټپـو ، کـاکړیو غـاړو او مشرانو تر څنګ یو لیکلی شهادت هم موجود وي.

په ټوله افغاني مینه،

پامیر ساحل

څلنۍ، د ۲۰۱۲ز کال د اګست ۱۵مه

چیک جمهوریت پراګ

## د باز برخه

زمونږ کلیوالو به ویل: غنم ډېر بختور او برکتي شی دی، هر څه ترې پخېږي او تیارېږي.

دا پخه خبره مې آن له ماشومتوبه په ذهن کې وه. د ليکوال قلم هم لکه د غنمو وږی دی چې د هنر او ښکلا رنګا رنګ نعمتونه ترې تيارېدای شي. دا ځيني ليکوالان او شاعران خو بيا بيخي غنمو ته پاتې کيږي چې له خپلو قلمونو يې ښه غزلونه ، نظمونه ، لنډې کيسې ، خاطرې ، مقالې..... او د ليکوالۍ د مېدان نورې برخې را جاري وي. زمونږ باز عابد بازمحمد همداسې وبولیء. له رنګه سکاڼ غنمرنګ او ليکنې يې هم د غنمو غوندې خوږې او برکتي دي.

دا زمونږ خلکو به د يوه داسې چا په باب چې له هره پلوه به د ژوند له ښېګڼو برخمن و ، ويل: فلاني برخه موندلې ده. زه خو وايم چې زمونږ باز هم برخه موندلې، خو دا برخه داسې نه ده چې کوم نا اشنا سپين ږيری او يا حضرت خضرعليه السلام دې په لاره ورغلی وي او باز ته دې يې نا اشنا دعاوې کړې وي. نه نه د باز برخه ددوی د خپل فقيرانه او ملنګي خوی خصلت، له ادب او ليکوالۍ سره له زړه چاودي رياضت ، د افغان ادبي بهيراو بهيروالو په اخلاص خدمت له برکته ده.يعنې دا ټول سره لاس په لاس شوي چې په نتيجه کې د باز برخه ترې جوړه شوې ده.

کله چې د باز د نکريزو پانه د ذوق پر منګولو پورې شوه نو ښکلې و برېښېده. تر ننګرهار نه يې په خوست ، کندهار او پېښور کې خوښوونکي ډېر وو. د عابد کيسې هم په حاشيه

کې پاتې نه شوې او ځانونه يې متن ته را وايستلې. باز نو اوس هوايي شوی دی. ګران لوستونکي دې حيرانيږي نه، مطلب مې دا نه دی چې ګوندې له چتې وتلی دی. اصله خبره داده چې باز نو د هوا دباز غوندې ځان ثابت کړی دی. د خپل هنري ښکار شرنګې د هوا په تارونو شرنګوي. يعنې اوريدونکو ته د هوا له لارې د فکر ، ښايست ، خيال او پيغام برخه رسوي. عابد صاحب د افغانستان په تعليمي مؤسسه کې ( چې خپرونې يې له بي بي سي خپريږي ) کلونه کلونه مخلصانه کار او خدمت وکړ. دا څه موده کيږي چې د مشال راډيو له لارې يې په لرو بر کې ښايستو کې خپرونې خپريږي چې ډير مينان يې پيدا کړي دي.

ګرانو لوستونکو ، زيری مې درباندې. تاسې ووايیء چې زيری دې په ګل بدل. ښه نو خبره داسې ده چې عابد صاحب د مشال راډيو له پاره له خپلو جوړو شويو راپورونو يوه رنګينه

ګلدسته جوړه کړې وه ، چې اوس يې د يوه ښکلي کتاب په ګلدان کې مونږ او تاسو ټولو ته ډالۍ کوي. د باز په دې غونچه کې د پيښور ښکلا هم شته چې د نظرماتي له پاره يې پرې د رنجو خالونه پورې کړي، ويې ګورئ شين خال له ورايه په کې ځليږي. افغاني ګنډ ته د لونګين په لړ ورختلی دی. د نکريزو په شپه د چمبې له غږ سره يې د چا د سپينو زرو د بنګړو شرنګا شرنګ مه هيروئ. باز مو په پنجو کې

اخلي د ماشومتوب دنیاګۍ ته مو وړي او د چندرو د لوبې ننداريې ته مو کېنوي. کله چې ستړي شيء نو د پښتنو ديرو ته مو بيايې او شين چای له توري ګوړې سره درباندې نوش جان کوي.

اخر خبره څه ده ؟باز په دې کتاب کې پر نهه د پرشمه (۳۹ ) شماره در سره غرېږي او په ذهن کې مو د بدو انګېرنو بتان ماتوي. ښه ګرانو لوستونکو ددې کتاب مرغ دې تاسو ټولو ته در ښه وي. مشال راډيو او په خپله عابد صاحب ته دې هم مبارک وي چې خپل اورېدونکي يې په ښه فکر نازولي دي.

باز دې همداسې د ښکلا او هنر ښکارزن وي، د قلم پنجې او منګولې يې پخې مه شه.

په اخلاص او مينه
کاروان
د۱۳۹۱ کال دعقرب اتمه

# خپلې خبرې

قدرمنو لوستونکو

د ۲۰۱۱ جون کې چې زه له پېښور نه د کار په سلسله کې بېرته جلال اباد ته راغلم، نو نېږدې راباندې روژه راغله. او د همدې روژې په يوه مازيګري چې زه له

ملګرو سره لغمان ته تللی وم، د ګران همکار ملګري او سینیر ژورنالست مجید بابر ټیلفون راغی. په خبرو خبرو کې مې ورته ویل چې روژه ده سرکاري غونډې هم دومره نه وي، د راپورونو لپاره سوژې نه لرم. هغه راته وویل چې د سوژو څه کمی دی، ستا په وړاندې په پښتني کلتور کې داسې ښکلې نښې او هم شته چې له پېړیو څخه راروانې دي، ځینې یې د هېرېدو په حال کې دي او ځینې یې اوس هم پښتنې میرمنې پالي.

ما ورته وویل لکه څه شی؟

وې ويل لکه، شین خال، رانجه، پېزوان، لونګین،ګودر او ....

بابر صاحب دې ژوندی وي، د تېر څه باندې یوه کال راهیسې چې زه په کلتوري راپورونو کار کوم که هره اونۍ نه وي نو په دویمه هغه کې خو مې ضرور یو کلتوري راپور تیار کړی وي

دلته باید د یوې خبرې یادونه وکړم چې ما اکثر کلتوري راپورونه د تنهایۍ په شپو کې په نیمه شپه جوړول او له جوړېدو وروسته چې مې کله د یوه اورېدونکي په توګه ورته غوږ نیولی، خوند مزه مې ترینه اخیستی. زه دا نه وایم چې زما راپورونه به د

تیوري په لحاظ په تول پوره وي. خو دا ضرور وایم چې ما له خپل شاعرانه ذوق نه په کې په خلاص مټ کار اخیستی. او کله چې مې مشال راډیو ته لیږلي او بیا مې د ورځې له مخې اوریدلي نو زما د نورو ټولنیزو مسایلو او تولیدي راپورونو په نسبت کلتوري راپورونه نیږدې په درې څلورو خبري ساعتونو کې چلیدلي چې راپورونه یې برخه وي او کله چې به زما کوم راپور د سلام پښتونخوا خپرونې موضوع جوړه شوه، نو ټوله ورځ به پرې خوشحاله وم، په تیره بیا چې په کوم راپور د ګرانو همکارانو د ستاینې بریښنا لیکونه راغلل نو بیا به زما دا یو موټی وجود هم په جامو کې نه ځایده.

یوه بله یادونه هم باید وکړم چې زما په سلګونه تنه پښتانه یاران چې یو شمیر یې په کې شاعران او لیکوالان هم دي او یو شمیر یې د همدې ډلې مینه وال دي، په اروپا او نورې نړۍ کې میشت دي. هغوی چې به کله هم ما سره په فیسبوک یا سکایپ کې مخا مخ شول، نو د شعر د ویلو غوښتنه به یې کوله، ما به تازه شعر نه و لیکلی، نو هغوی به یو رقم مایوسي وښوده. بیا به مې ورته ویل چې زه اوس د شعر لیکلو تنده

مشال راډيو ته په کلتوري راپورونو جوړولو ماتوم. هغوی ته به مې يو نيم راپور د سکايپ له لارې اورولو. کله چې به هغوی راپور واوريده، نو ډيرو به يې د نورو راپورونو د اورولو غوښتنه کوله. او ډيرو يې راته ويلې چې اوس دې د شعر اصلي محور پيدا کړی.او يو نيم خو به راته دا هم ويل چې په کتابي بڼه يې خپاره کړم.

د دوستانو دې هڅونې ما ته هم زړه راکړ چې د مشال راډيو له مشرتابه سره د راپورونو د چاپ خبره شريکه کړم، کله چې مې ګرانو مشرانو مدقق صاحب او ختک صاحب ته د راپورونو د چاپولو خبره په يوه ګډه بريښنا ليک کې شريکه کړه، نو په سبا راته مدقق صاحب وليکل چې که دا هر څه د مشال تر سيوري لاندې وي نو ورځه پرې.

په دې کتاب کې چې د سريزې په توګه د راپورونو محتوا، په يوه پاراګراف کې وړاندې شوې، دا مې وخت په وخت د راپور د سريزې په توګه د راډيو همکارانو ته ليکلي چې په راډيويي ژورناليزم کې د راپور سره ضميمه وي، نو ځکه مې د ځينو راپورونو سر ته راوستي دي.

په دې کتاب کې چې په ګوتو جوړ شوي انځورونه

وینیء دا زما ګران دوست، په پښتني کلتور مین او د مشال راډیو مخلص حمد الله ارباب د هنرمندو ګوتو محصول دی، ارباب صاحب یوازې انځورونه، نه، بلکې د کتاب لګښت ته یې هم په ورین تندي اوږه ورکړې چې زه یې د مینې پوروړی یم.

په اخره کې له ښغلې کریستینا هښنګ چې په پراګ کې د مشال راډیو همکاره ده، ځانګړې مننه کوم چې د لونګین لپاره یې په زړه پورې پښتنۍ جوړه کړې ده.

په ټوله مینه

بازمحمد عابد

د ۲۰۱۲ م کال د نومبر ۳۰

# پېښور په سندرو کې

**سریزه:**

پېښور د ټولو لپاره اشنا نوم دی، خو د ډېرو لپاره بیا خوږ نوم دی، چې هم یې ژوند ورپورې تړلی او هم یې علم و ادب، تاریخ او کولتوري میراثونه.

پېښور که یو لورته د پېښوریانو کور دی، بل لور ته څو لسیزې کیږي چې د ویرژلو افغانانو د کوربه توب ویاړ هم لري. همدغه تګ راتګ پېښور او کابل په یوه وریښمین ادبي مزي وتړل.

په دې وروستیو کلونو کې چې پېښور د خپل لفظي جوړښت په مفهوم د پېښو ور شو. نو نا امنیو هم ورمخه کړه، پښتنو شاعرانو د نا امنۍ دا نه زغمیدونکي پېښې د خپلو هنري شعرونو په کالب کې ځای کړې او بیا دا شعرونه پښتو موسیقۍ ته هم ورننوتل. نو په دې توګه پېښور هم د هنرپالو، هم د شاعرانو او هم دغلته د لر او بر پښتنو د ژبې سر شو. په دغه راپور کې چې اوس یې در اورو، د پېښور ښکلا او وروستیو ویرژلو پېښو ته په کې کتنه شوې ده.

## راپور:

پېښــور چې لــه پخــوا نــه ورتــه د ګلونــو او ښایســتونو ښـار ویـل شـوی، تـر اوسـه یې دا فطري ښـکلا لـه یـوه نسـل نـه بـل تـه پـه خپلـه غېـږه کې راوړې. ځکـه خـو وخـت پـه وخـت پـه سندرو نمانځل شوی دی.

کلـه چـې کومـه کلیوالـه مینـه لـه خپـل مـېن نـه د سـینګار لپـاره غوښـتنه کـوي، کـه خپلـه چوپـه هـم وي، نـو د کشـور سلطان په خوله ګویانه شي:

*که په همزولو کې مې ګورې*
*فرهت په تبې تور د باجوړ ګلونه*
*وئ میده میده لکه د زړکې تګ کومه*
*کمیس تور ما ته راوړه*
*تازه تازه ګلونه درې څلور ماته راوړه*
*لاړ شه پېښور ته کمیس تور ما ته راوړه*
*تازه تازه ګلونه درې څلور ما ته راوړه*

خـو څـه درې لسـیزې وړانـدې چـې پـه کابـل د اور لمبـې پـورې شـوې او تـاو یـې تـر پېښـوره راورسـېده، نـو پـه دې وخـت کـې د رحمـت شـاه سـایل د زړه تناکـه د ګلـزار عـالم پـه

مرۍ کې وچاو دیده:

***چا که د لندن د ښار د حسن کیسه کړې ده***
***ستا تصویر مې غلی شان په زړه کې خندېدلی دی***
***چا که د پېرس مازیګري سندرې کړي دي***
***ستا صدر زما په زړه بلا راوربېدلی دی***
***چا هم که مانۍ د واشنګټن په خوند ستایلي دي***
***زه ستا دلربا کیسه خانۍ غېږ کې اخیستی یم***
***چـــا کـــه د ډیلــــي د مانښـــامونو ذکـــر کـــړی دی***
***زه ستا مانښامونو په کوڅه کوڅه کې لوستی یم***
***ما ته خو دې ګرد هم د سپرلي له رنګه ښکلی دی***
***کله مې پېرزو شې په بمونو پېښوره***
***ما درته هر وختې د ګلونو ښار ویلی دی***
***کله مې پېرزو شې په بمونو پېښوره***

خـو کلـه چـې پېښـور د خپلـې ښـکلا پـه زور د بـد رنګۍ سـیوری لـه سـره ایسـته وغورځاوه، نـو عرفـان خـان د فضـل سـبحان عابـد د سـندرې ښـکلا لـر او بـر پـه داسـې جانانـه انـداز وشـیندله چـې هـر چـا وویـل چـې پـه رښـتیا هـم پېښور خو پېښور دی کنه:

***څنګه چې ښار هسې یې نوم ښکلی دی***

*په سرې لکې د جانان په شانې*
*دلته بوډا ښکلی ما شوم ښکلی دی*
*پیغلې یې ننګ لرې د ځوان په شانې*
*د ملکنۍ په شانې د نګې غرې*
*د هر زلمي زړه یې خیبر دی کنه*
*د هر ځای خپل خوند و نه خپلې مزې*
*خو پېښور ،خو پېښور دی کنه*
*خو پېښور خو پېښور دی کنه*

او کله چې بیا د پېښور دا ښکلا بدرنګو و نه شوه زغملی، نو یو ځل بیا فضل سبحان عابد راپورته شو او د لر بر پښتنو د زړه ناره یې د حمشت سحر له خولې وایسته:

*په پېښور کې پرهر مه جوړوۍ*
*لا د کابل پرهر ورغلی نه دی*
*دلته لا بل د وینو جام ډکوې*
*هغه ډک جام دې*
*لا ګوټلی نه دی*
*په پېښور کې پرهر مه جوړوۍ*
*وه په پېښور کې پرهر مه جوړۍ*

پاتې دې نه وي چې د پښتو له کلاسيک شعر نه نيولې تر معاصر شعره پورې پېښور په څه نه څه حواله د پښتو شعر ته په ښکلي بڼه راننوتی. ځکه خو زيات شمير شاعران وايي چې پېښور الهامي سيمه ده، شاعرانه طبعه په کې غوړېږي او د ادبي غونډو کلتور له پېښوره لرا و بر غځېدلی دی.

## د رنجو کلتوري ارزښت

سریزه:

رانجه د پښتني ښځمنو يو نه بېلېدونکی دود دی، چې هم دګانې په توګه د سترګو د ښایست او هم د درملو په توګه پښتنې کورنۍ کاروي. ښايي په ځینو نورو قامونو کې به هم رانجه دود ولري، خو په پښتنو کې بیا بیخي ډېر دی. واړه ماشومان او سپین سرې ښځې خو يې خامخا کاروي. ځینې وخت د پیغلو له خوا د خوښیو په خاصو ځایونو کې بیا د ښاېست لپاره په سترګو پورې کیږي دغه راپور په دغه سندره پیلیږي

راپور:

***زه چې په تورو سترګو تور رانجه کړم پورې موري***

***ځواني مې ګورې موري***

***جدا له یاره.***

میرمن قمرګلې کلونه پخوا دا سندره ویلې وه، خو اوس يې هم د موسیقی د هنر باذوقه مینان په شوق اوري. د تورو سترګو دا جادويي حسن، شاه وخوا درې سوه کلونه پخوا حمید ماشوخیل هم ستایلی و.

***چې په تورو سترګو تور رانجه کا پورې***

***له يوې تورې بلا پاڅي سل نورې***

حمید ماشوخیل په رنجو تورې سترګې تورې بلاوې ګڼلې، خو دا بدرنګې نه بلکې ښکلې بلاوې دي.

روان شناسان سترګو ته د روح دروازې وايي، خو کله چې دا دروازې د رنجو رنګونه واغوندي، نو راښکون يې څو چنده شي. رانجه د سترګو د ښايست تر څنګ د تندي او زنې خالونو ته هم کارول کيږي.

رانجه نه يوازې د سترګو د سوزش او سورالي د له منځه وړلو لپاره په سترګو پورې کيږي، بلکې ميندې خپلو ښايستوکو ماشومانو ته په مخ، زنه او تندي د رنجو خالونه په دې خاطر ږدي چې له نظره نه شي.

اوس په بازارونو کې تيار رانجه پلورل کيږي، چې د خلکو په وينا معيار يې د پخوا په څېر ښه نه دی. دا چې پخوا ولې د رنجو معيار ښه و، يوه سپين سرې مور يې راته وايي:

*((د رنجو غونډارۍ به مو په بازار کې واخيست، بيا به مو په منډسته کې اوړه کړل، د غوا کوچ به مو په کې ګډ کړل او تر هغې به مو لړل چې سپور به شول او چې کله به مو په سترګو پورې کړل او و به مو ليدل چې سترګو مو اوبه ونه کړې، نو بيا به پوه شو چې اوس ترينه رانجه جوړ شوي دي. بيا به مو ورو ماشومانو ته هره ورځ په سترګو پورې کول او چې کله به لږ غټ شول*

*نو یو ورځ پس به مو ورته رانجه پورې کول.))*

په جلال اباد کې د بي بي هوا لیسې د اتم ټولګي یوه زده کوونکي ستاره وایي چې اوس هم ورته مور د سترګو د خوږ په خاطر رانجه پورې کوي.

د کامران په نوم یو تن ځوان چې تازه له اروپا راستون شوی او په سترګو یې رانجه پورې کړي، وایي چې د هوا په بدلېدو یې سترګو اوبه کولې، نو ځکه یې ورته مور رانجه پورې کړي دي.

*((زه په دې وروستیو کې له اروپا څخه راستون شوی یم. کله چې د کابل په هوایي ډګر را کیوتم او د جلال اباد په لور راروان شوم نو د ګردونو او هوا د بدلېدو له وجې مې سترګې سرې شوې وې، اوبه یې هم کولې، مور مې راته وویل چې په سترګو کې به در ته رانجه وکړم، ټک او پټرۍ به شي. اوس چې یې راته په سترګو رانجه پورې کړي، هغه سوزش هم ختم شوی او د سترګو سوروالی مې هم اوس په نښه کیدو دی.))*

پخوا به یې ناویانو ته په رنجو یو ازې سترګې نه تورولې، بلکې په زنه او تندي به یې ورته د رنجو خالونه وهل. یو ځل بیا سپن سرې ادې ته غوږ کیږو.

***((هغه وخت چې د سینګار له پاره ډیر شیان نه وو نو له همدې رنجو به یې ناویانو ته په مخ، زنه او بارخوګانو خالونه هم وهل او نرې نرې وریځې به یې هم ورته له همدې رنجو څخه جوړولې. د ناوې ښایست همدا و.))***

د رنجو په اړه یوه فلکلوریکه کیسه هم شته چې د یوې اسطورې په توګه یې خلک کاروي. وایي چې پخوا یوه پاچا د خپل مشر وزیر سره تنګ شوی و. د خپلو نورو وزیرانو سره یې د ښکلا له پاره په ګډه یو معیار وټاکه او بیا یې خپل باتدبیره وزیر ته په یوه هفته کې دننه دا سوال د سر د پریکولو په شرط کیښودو چې دوی به د ښکلا له پاره څه معیار ټاکلي وي؟ باتدبیره وزیر چې د پاچا دا شرط واوریدو، نو ډیر زیات یې چرت خراب شو او د خپګان په حالت کې خپل کور ته روان شو. کله چې یې هوښیارې لور ترېنه د خپګان پوښتنه وکړه، اول یې ځان غلی کړ او چې د لور

بې صبري يې زياته شوه نو ورته ويې ويل چې پاچا راته داسې شرط ايښی چې خامخا به په کې پاتې راځم او سر به رانه غوځوي. د وزير لور تازه په سترګو رانجه پورې کړې وو ، د دې خبرې له اوريدو سره يې د پلرنۍ مينې له امله له خولې نه يوه کړيکه ووته او چې باتدبيره وزير وروکتل د هغې په بارخو د رنجو لړلې اوښکه پنډه شوې وه، وزير له خوشحالی نه يوه چيغه وکړه او لور ته يې وويل چې د سوال ځواب مې پيدا کړو. په همغه شيبه پاچا ته ورغی او ورته يې وويل:

کيدای شي چې ستا د سوال ځواب دا نه وي، خو ما ته په رنجو لړلې اوښکه تر بل هر څه ښکلې ښکاري. او د دې ځواب سره وزير خپل سر ژغورلي و.

شين خال

**سریزه:**

شین خال هم د پښتنو نجونو او هلکانو رواج دی، خو په ځانګړې توګه یې ښځینه ډېر کاروي. خال معمولا د مخ په کومه برخه وي، یا په تندي، یا په زنه. کله درې څلور او یازیات هم وي. خال د نجونو په مخ د کورنیو د نورو ښځینه وو له خوا اچول کیږي. کېدی شي، چې په ځینو کورنیو کې به خال د درملنې په نامه هم بلل کیږي، خو په اکثرو کې د ډول او سینګار د یوې نښې په توګه ایستل کیږي. خال د ښایست د یوې مهمې موضوع په توګه په پښتني سندرو کې هم ډېر یاد شوی.

**راپور:**

*یو بنګړې دې مات شو*
*څه دنیا خو ورانه نه شوه*
*شین خال دې میرات شو*
*څه دنیا خو ورانه نه شوه*

شین خال چې په ځینو پښتني قبیلو کې له قدیمه رواج لري، د ښځینه ښکلا یوه په زړه پورې برخه

جوړوي، خو د ننګرهار په بېلا بېلو سيمو کې په ماشومتوب کې ځينو هلکانو ته هم په تندي شين خال وهل کېږي. چې د ژوند تر اخره ورسره مل وي.

يوه افغانه ميرمن چې عمر يې تر اتيا کلونو اوړي او په تندي، زنه او بارخوګانو يې خالونه له ورايه ښکاري د خال د وهلو په طريقه راته وايي:

*(( خيد به مو ورته ويلو، هغه به مو وټکولو، بيا به مو توري تبی ته ونيوه. د تبی توري به مو په کې واچول. د کهي پاک ډکی به مو راواخيسته، په هغې به مو په يوه پياله کې ښه ولړل چې تورکی او خيد به ښه سره ګډ شول، د کهي د ډکي په بيخ به مو لړل شوی رنګ راواخيستو او په تندي، زنه، او مخ به مو هغه ګډ وله رنګ کيښودو، بيا به مو دوه ستنې غبرګې کړې او په مخ، تندی او زنه باندې به مو ميده ميده چوخولې. په دوه درې ورځو کې به په ستنه داغل شوي ځايونو پترې ونيول او چې هغه پترې به مو ترې ليرې کړل، شين خال به راښکاره شو.*

ـ ادې تاسو خو هم خالونه وهلي دي.

*هو په تندې يې راته وهلی دی، په مخ او زنه يې راته وهلي دي او په شونډو مې هم خال وهل شوی دی.*

ـ ترورې تاسو خيد ياد کړو دا خيد څه شی دی؟

***خيد د غنمو او اوربشو هغه فصل ته وايي چې ايله يو لوېشت له ځمکې راپورته شوي وي ))***

خال وهل خو د ښځينه سينګار برخه ده. خو دا چې هلکانو ته ولې په ماشومتوب کې خالونه وهل کيږي، دا سپين سرې ادې دا پوښتنه دا رنګه ځوابوي:

***(( په ځينو کورنيو کې چې به هلکان نه پاتې کيدل، هغوی ته به يې خالونه وهل، غوږکې به يې ورته د سرو او سپينو زرو والۍ اچولې، دا زموږ د بېبيانو تو تکې وې. زموږ په کلي کې خانانو ( يعنې) دورانيانو ته هم خالونه وهل کېدل چې د کوم ماشوم به خال و خلک به پوهېدل چې دا د خانانو له کورنۍ نه دی ))***

يو تن ځوان چې په تندي يې شين خال له ورايه ښکاري، ومو پوښته چې څنګه ورته شين خال وهل شوی؟ هغه په ځواب کې وويل:

***(( نوم مې رفيع الله زيور دی. زما د نيکه ورونه به په ماشومتوب کې مړه کيدل. بيا چې زما نيکه ته خال وهل شوی و نو هغه ژوندی پاتې شوی و. بيا له هغې وروسته زما درې ترونه «کاکاګان» په ماشومتوب کې مړه شوي و خو دې يو تره او پلار ته مې هم شنه خالونه په تندي***

***وهل شوی و. خو زمونږ نه څلور پنځه خویندې مشرې وې، نارینه هلک نه کېده. کله چې زما مشر ورور پیدا شوی و نو هغه ته یې خال وهلی و. بیا له هغه نه وروسته ما ته او له ما کشرانو ورونو ته هم خالونه وهل شوي دي. دې نه علاوه مونږ ته به یې له ویښتو نه ښکرې هم پرېښودل.***

ـ تا کله د دې خال د ورانېدو هڅه کړې؟

***ـ یو وخت چې زه په دې پوه شوم چې شین خال وهل ګناه لري، زه پېښور کې اندرشهر ته د خال د ورانیدو لپاره ورغلم، خو هلته راته وویل شول چې دا یوازې په تیزابو ورانیدی شي چې بیا به دې تندی داغي شي. مه یې ورانوه، ښه درسره ښکاري))***

یو بل ځوان چې په شونډه او تندي یې خالونه له ورایه ښکاري، وایي چې د اووه خویندو له پاسه پیدا شوی نو ځکه یې ورته د تبرک لپاره خالونه وهلي دي.

***((آصابر مې نوم دی په ماشومتوب کې نازولی اوم، تر ما اووه خورګانې مشرې وې. ځکه یې راته په شونډه او تندي خالونه وهلي دي. زه د خپل کور کشری او یوازینی هلک یم***

ـ ښه، په تندي او شونډه خو درته په کور کې خالونه

وهل شوي خو زه اوس ګورم چې تا په لاسونو هم خالونه وهلي، ماران او لړمان دې پرې رسم کړي، دا شوق درسره څنګه پیدا شو؟

*موږ چې پېښور ته مهاجر شوو، نو زه خیبر بازار ته د فلم لیدو لپاره ورغلم کله چې مې فلم ولیدو، بهر راووتم، هلته مې وکتل چې د چاپو والا ناست دی او خلکو ته په لاسونو چاپې لګوي. نو زه هم ورغلم او دا چاپې مې ولګولې.*

*ـ کله خو چا د دې خالونو او چاپو له وجې نه یې ځورولې؟*

*ډېر پرې خلکو ځورولی یم، د شین خالي غږ را پسې شوی دی، دا راته ویل شوي چې ګناه هم لري دا هم راته ویل شوي چې جنازه دې هم نه کیږي ))*

دا چې د خال وهلو شرعي حکم څه دی؟ یو تن دیني عالم درویش باچا یې راته وایي:

*(( خال وهل په اسلام کې ګناه ده باید ونه وهل شي. ځکه چې په قران کریم کې، په احادیثو کې او په تفسیرونو کې د خال د وهلو نهی بیان شوی ده. او دا چې څوک وایي چې جنازه یې نه کیږي، یا یې لمونځ نه کیږي، دا هسې وایي، خو ګناه ده. ))*

نازکخیال شاعر پیر محمد کاروان وایي چې شین خال د فلکوري ارزښت تر څنګ پښتو معاصر شعر ته هم په ښکلي بڼه رانغوتی دی.

*((شین خال په پښتو ادب کې په ډېره زیاته اندازه راغلی دی. همدا رنګه په مسره ییزو، کاکړیو غاړو او نورو ولسي سندره کې یې هم یادونه شوې ده. د خوشحال بابا، رحمان بابا او معاصرو شاعرانو په شعرونو کې هم راغلی دی، هغه الفت صیب څه ښه وایي:*

*چا چې ایښی دا شین خال ستا په جبین دی*
*زما زړه هم د هغې له لاسه شین دی*

*د غني خان یو ډېر مشهور شعر دی هغه وایي:*

*د لکها زره کتابه، ما دا یو ټکی زده کړی*
*وایي تور هم ښایسته شي چې د یار په زنه خال شي*

*او کله چې محمد (ص) عرش ته وختو. نو ملایکو ترې پوښتنه وکړه چې له دنیا نه دې مور ته څه تحفه راوړې؟ هغه مبارک ورته ویلي وو چې ما تاسو ته د بلال رنګ راوړی چې خالونه ترینه ووهئ.))*

یاده دې وي چې د پښتو له کلاسیک شعر نه واخله تر ننه پورې شین خال د یوه ښکلي مضمون په توګه په

شاعرانو ځان منلی. تر دې چې کله کله د روماني شعرونو تر څنګ حماسي رنګونه هم خپلوي.

کله چې په افغانستان کې د وينو سيلاب په څپو و نو پيرمحمد کاروان همدا شين خال په ډېره هنري بڼه د حماسې په خم کې رنګولی او دا ناره يې له خولې ايستلې چې:

*له زړه نه رانه شي، لکه سور د وينو خال ځاځي*
*د سوري لاس نه مې د سپينې سولې سوال ځاځي.*

## سریزه:

پېزوان د پښتني پسول یو ښکلا ویشونکی توکی دی، چې ښځینه یې په ځانګړې ډول پیغلې د مهمو خوښیو په وخت په پوزه کې اچوي، د پېزوان له لپاره باید په پوزه کې یو سوری له مخکې نه جوړشوی وي، معمولا پېزوان پېغلې دواده په وخت ځانته جوړوي. خو تر واده وروسته هم په بېلابېلو مواردو کې کارول کیږي. پېزوان دیوې مهمې ګاڼې په توګه په پښتو سندرو .کې یاد شوی

راپور:

پېـزوان پـه پښـتون میشـتو سـیمو کـې لـه پخـوا نـه د ښـځینه سـینګار یـوه برخـه وه او اوس هـم پـه کلیوالـو سیمو کې د ښځینه سینګار برخه جوړوي.

پېـزوان کـه لـه یـوې خـوا د ناویـانو پـه سـینګار کـې ځـانګړی مقـام لـري، بلـې خواتـه یـې پیغلـې نجونې هـم د ځان د سینګار لپاره خوښوي.

د زرمینـې پـه نـوم د پاخـه عمـر یـوه میـرمن وایـي چـې پخـوا بـه پېـزوان هم لـه سـپینو زرو جوړېـده، او زرګـر تـه بـه یـې فرمـایش ورکـاوه. خـو اوس یـې مالـداره کـورنۍ لـه

سرو زرو جوړوي او د چا چې وس نه رسيږي په بازارونو کې د رود ګلو يا زيړو پېزوانونه له بنجاره ***څخه اخلي.***

د فيروزې په نوم يوه بله ميرمن وايي چې پېزوان خو د ناويانو په جوړه کې خامخا وي خو ځوانې نجونې يې هم د ودونو په مراسيمو کې په پوزه کوي.

د ننګرهار پوهنتون استازه معاوضه بيا پېزوان يو مزاحم سينګار توکی ګڼي.

***((سره له دې چې پېزوان ډېر ښه نوم دی. په سندرو کې هم ډېر ښه ياديږي، په محفلونو کې پرې شعرونه جوړيږي او د ښځو د سينګار يو شی ګڼل کيږي. خو زه فکرکوم چې پېزوان په خبرو کولو کې هم مزاحمت کوي، د خوراک پر وخت هم مزاحمت کوي او که څوک په ټوکه کې لاس ورواچوي، کيدای شي چې پوزه يې وينه شي او يا هم ودرد بږي، ځکه چې د پوزې منځ خو هسې هم نازکه وي. زما خوښه نه ده چې پېزوان دې ښځې واچوي))***

د پېزوان په ستاينه کې ډېرې سندرې او نيمکۍ ويل شوي او لا ويل کيږي. پېزوان پښتو شاعرۍ کې هم جوت مقام لري. او له زمانو راهيسې يې لنډۍ يا ټپو ته

ښکلا او ځلا وربخښلې ده.

ځوان شاعر طاهر ساپی راته د پېزوان په همدې ښکلا ییز اړخ خبرې کوي.

*((لکه څنګه چې پېزوان د پښتنو پېغلو، پښتنو نجونو او پښتنو ښځو د سینګار یوه برخه ده، نو طبیعي خبره ده چې شاعران به یې په خپلو شعرونو کې یادوي، په سندرو کې به یې یادوي او لنډۍ یا ټپه چې یوازې پښتو ته ځانګړې شوې ده، په هغې کې هم ډېر یاد شوی دی، د مثال په ډول دا ټپې چې:*

*پېزوان په کرمه کې جوړیږي*
*د پېښور زرګره مات دې شه لاسونه*

*او یا دا چې*

*پېزوان په لوړه پوزه خوند کړي*
*په لنډه پوزه کې چارګل مزه کوینه*

د یادولو ده چې په اکثرو سیمو کې پېزوان په ودونو او ښادیو کې په پوزه کیږي، خو کوچیانۍ ځوانې میرمنې یې له واده وروسته تر ډېرو کلونو پورې کال و سر په پوزه کوي.

# لونګین

## سریزه:

لونګین په پښتني ټولنه کې د ناویانو د سینګار یوه برخه جوړوي. اوس هم په ډیرو کلیوالو سیمو کې ناویانو ته د واده په موقع لونګین د سرو زرو د هار سره یو ځای په غاړه اچوي. همدا رنګه لونګین د پښتو په فلکلوري او ولسي ادب کې هم جوت مقام لري او اوسني شعر ته هم په ښکلې بڼه راننوتی دی. پښتو سندرغاړو هم د لونګین په حقله بېلابېلې سندرې ویلې دي دی.

راپور:

لونګین په پښتني کلتور کې د ناوې د سینګار هغه برخه ده چې له پخوا نه تر اوسه پورې رواج لري. اوس

هم په ډېرو کليوالي سيموکې د زيورو د ګاڼې تر څنګ ناويانو ته لونګين په غاړه اچول کيږي.

لونګين تر يوه وخته د ناوې غاړه زينتي کړي وي خو کله چې د ناويتوب نه عادي ژوند ته راوګرځي نو لونګين د کوټې په کوم کونج کې په ديوال کې ټومبي او تر هغې چې په کوټه کې ځورنده وي د کوټې فضا يې معطره کړې وي.

يوه کليوالـه ميرمن وايي چې د خپل واده ۲۸ کلن لونګين يې ساتلی و خو د لور په واده کې يې له ګوتو ووت:

***((ما د خپل واده لونګين اوه ويشت، اته ويشت کاله په بکس کې ساتلی و. کله چې به مې بکس پرانيست، ښايسته خوشبو به يې وکړه. خو تير کال مې چې د لور واده و. خسرګنې يې هم ورته د سرو زرو ګاڼه کړې وه او ما هم ورته سره زر جوړ کړي وو. خو د لونګين په کمي و هغه مې ورته د خپل واده په غاړه کې وروا چولو.))***

لونګ او لونګين په ډېرو ټپو او پښتو شعرونو کې دير ځله په بيلابيلو ډولونو ياد شوي او اوس هم پښتو شاعرۍ کې جوت مقام لري. راځئ په دې اړه شاعر او

ليکوال اسرار اتل ته غوږ شو.

***((دلونګين نوم دومره خوږلګي، دومره ښکلي او سپيڅلي چې تر ننه پورې هم زموږ د ولسي سندرو رنګونه پرې ودان دي. زموږ په خلکو کې د لونګين شتوالي دا ښيي چې پښتانه د خپلو ښو سره مينه لري او په هيڅ حال کې نه غواړي چې خپل دغه ځيزونه له لاسه ورکړي. زموږ په ټپو کې داسې نمونې هم شته چې:***

***جانانه تا که لونګ راوړل***

***زه به له نازه لونګين په غاړه کړمه))***

دا چې لونګين د پښتو فلکلور يوه برخه جوړوي، نو په ډيرو ولسي سندرو او سروکو کې اوس هم ياديږي.

ځوان سندرغاړی بريالی صمدي چې په هر محفل کې له لونګين سره تړلی يوه سندره نيمه وايي، له ده مو وغوښتل چې د لونګين په اړه راته يوه سندره زمزمه کړي، هغه د باجې په پردو ګوتې کيښودې او شوندې يې په دې زمزمه پرانستې.

***((په خوشبويي يې هر سړی ځکه ملنګ دی***

***تور پيکی دې بوټی د لونګ دی***

***تور پيکی دې بوټی د لونګ دی***

***په سينه يو لالی ځايږي***

***تور پيکی دي بوټی د لونګ دی***
***زه لونګين او جانان دواړه ځايومه***
***تور پيکی دي بوټی د لونګ دی))***

يوه سپين مور وايي چې پخوا به نايښو ته د لونګين د جوړېدو لپاره ويل کيدل او ترهغې چې به واده رارسيده لونګين به يې ورته جوړ کړی و. دی زياته وي د لونګو دانې دوه ورځې په اوبو کې او دوه ورځې په شيدو کې اچول کيږي. او پس له هغې ورپسې ستنه او مرغلين تار را اخيستل کيږي، او د لونګو دانې په کې پيېيل کيږي او بيا ترې تيله دار تار چاپېر يږي.

د يادولو ده چې د لونګو دانې په خوراکي مصالحه جاتو کې هم د خوند په خاطر ګډيږي.

# افغاني ګنډه (کميس)

## سريزه:

افغاني ګنډه ، چې په ځينو سيمو کې په افغاني ګنړ تلفظ کيږي، يو پښتني دودي دی، چې په کاليو کې دلاس په وسيله اوبدل کيږي. معمولا د کميس په په هغه ځای کې وي، چې د سينې په سر وي، خو کله کله ورته ګلان د کميس په نورو برخو کې هم پيدا کولای شو. افغاني ګنړ هم د ښځينه او نارينه دواړو لپاره کاريږي. ځکه چې د دواړوه طبقو په کميسونو دا کتل کيږي. خو د ښځينه وو په برخه کې نامتو دی او د دغه نامه په اخيستو د ښځينه وو ځانګړي، کالي چې په لاس په کې خامک شوی وي، ګنډه بلي.

راپور:

ګرده دې لمن

شين کميس دې مزيدار

ګرده دې لمن

طاهر شباب په دې سندره کې د ګردې لمنې ذکر

کوي. دا همغه افغاني ګنډه یا کمیس یا دوي چې پښتنې میرمنې یې په خپل لباس کې تر بل هر څه غوره ګڼي. افغاني ګنډه له پخوا څخه د افغاني کلتور برخه ده او اوس یې هم ښځینه په ځانګړو کلتوري مناسبتونو کې اغوندي.

افغاني ګنډه څنګه جوړیږي او د ښایست کوم توکي په کې استعمالیږي، د ننګرهار د سرخرود ولسوالی پیغله تورپیکی چې په خپل کور کې د افغاني ګنډه جوړولو مرکز لري، راته وایي:

*(( دغه افغاني ګنډه چې موږ یې په خپل مرکز کې جوړوو، بېلا بېل رنګونه او بېلا بېل ډولونو باندې ګنډل کیږي، نو په دې خاطر ځینې کمیسونه په دوه هفتې ، ځینې یوه هفته او ځینې یې په دریو ورځو کې جوړیږي.*

*- جوړښت یې څنګه دی، څه، څه په کې استعمالوئ؟*

*- موږ په دې کې د سرمې کار هم کوو، مرۍ، ګونګري، ستارې، طلایي تار، چرمه او پاولی په کې استعمالوو ))*

افغاني ګنډه په کومو مناسبتونو کې اسعمالیږي، دا

پوښتنه د جلال اباد ښار او سیدونکي نورزیه راته ځوابوي:

***((دغه کالي موږ په ملي ورځو کې، اخترونو کې، ودونو کې او د نکریزو په شپه اغوندو. موږ په دې کالیو کې ځان ډیر راحت احساسوو. دغه کالي موږ ته له خپلو میندو او نیاګانو نه میراث راپاتې دي.))***

افغاني ګنډه اوس پیغلې او میرمنې نه، بلکې ماشومانې نجونې هم خوښوي. یوه کم عمره جینۍ مشال راډیو ته وایي:

***((زما سلما نوم دی. افغاني کنډه زما ډیر خوښ دی، زه چې یې د چا په غاړه وګورم، نو کور ته راشم او مور ته مې ووایم چې ما ته یې هم واغوندي، مور مې راته وایي چې د ماما په واده کې به دې واغوندې خو زه ورته وایم چې ما ته یې اوس واغونده.))***

دا چې افغاني ګنډه په پښتني کلتور کې څومره ارزښت لري، دا پوښتنه د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد ببرک میاخیل دا رنګه ځوابوي:

***((زموږ په خپلو خپلوانو کې ما ډیرې داسې زړې ښځې لیدلي دي چې هغوی د خپلې ځوانۍ یا د خپل جلۍ توب افغاني کمیسونه اوس هم ساتلي دي او په***

*یوه ارزښت ورته قایلې دي او خاص خوند ورکوي چې کله ووایي چې مال له کلونو کلونو راهیسې دا افغاني ګنډه تراوسه ساتلی دی. دا خبره اوس زموږ په کلتور بدله شوې او اوس هم زموږ په کلیو بانډو کې افغاني ګنډه ته ښځې په ډېر درنښت قایلې دي ))*

یاده دې وي چې افغاني ګنډه د پښتوا پر تله اوس ډېر رواج موندلی تر دې چې اوس یې مېندې خپلو وړو نجونو ته هم جوړوي او په ځانګړو مناسبتونو کې یې وراغوندي.

# د پښتنو کليو ګودرونه ولې شاړ شول؟

سريزه:

ګودرونــه چــې د کليــو ښايســت ګڼـل کيــږي، خــو اوس د افغانســتان پــه ډيــرو کليــو کــې شــاړ شــوي. او دا ځکــه چــې پــه کليــو او بانــډو کــې لاســي پمپونــه لګيــدلي او نجــونې نــه شــي کــولای چــې ګودرونــو تــه ولاړې شــي، همدارنګــه د پښتو ادب لمنه هم د ګودر په مضمون مالامال ده.

راپور:

مستې منګې بر ورې دی
زړه مې دلبر ورې دی
عالمه لار نیسیٔ ډیر یې په هنر ورې دی

دا سندره مرحوم استاد اولمیر څه کم نیمه پیړۍ پخوا د راډیو افغانستان په ستوډیو کې ریکارډ کړې وه، چې اوس هم په ډیره مینه او شوق سره اوریدل کیږي او هر خوږمن او پرهرژلی زړه ټکوروي.

د منګې ذکر چې وشي نو د بنده تصور ته د کلي ګودرونه مخې ته ودریږي. د ګودر د نوم په اوریدلو سره د باذوقه پښتنو په وجود کې د ځوانۍ او مینې ولولې راوپاریږي.

پخوا به په کلیو کې جینکو د مازیګر لارې په دې خاطر څارلې چې ګودر ته لاړې شي او د خپلو همزولو جینکو سره مستي، ټوکې ټکالې او د زړه خواله وکړي.

خو د افغانستان په ډیرو کلیو کې اوس ګودرونه شاړ شوي او ځای یې لاسي بمبو او ژورو څاه ګانو نیولی دی.

یوه میرمن چې په خپل وخت کې یې ګودرونه لیدلي وو، وایي چې په هر محلت کې به د نجونو ډله مالومه وه، او ټولو به د مازیګر لارې په دې خاطر څارلې چې

ګودر ته به سره ځي او راز او نیاز به سره شریکوي.

ګودر په پښتو فلکلوري ادب کې هم جوت ځای لري، په ډیرو سندرو، نیمه کیو، سرکو او ټپو کې ورته خاص ځای ورکړل شوی. په همدې اړه مو د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد لعل پاچا ازمون وپوښت، هغه څه داسې وویل:

*((ګودر په پښتنو کې داسې یوه بنه لري چې هلته د سړو لار نه وي. یوازې او یوازې نجونې او میرمنې هلته ورځي او اوبه به یې تري راوړلې. زموږ پښتو ادبیاتو کې چې د ګودر کومه انځورنه شوې هغه هم داسې ده، په هغې کې د دوه مینانو لیدل، د منګي، مازیګر او د بنګړو خبرې په کې شته دي. دا نوبیا د شاعرانه تخیل پارونکي خبرې دي چې له ګودر نه اخیستل شوي دي. مثلاً یوه ټپه ده:*

*مازیګر نبه دی دیدن کیږي*
*بده غرمه ده لیلا کور کوي خوبونه*

*یعنې دا د مازیګر دیدن هم د ګودر له برکته دی*
*ګودر د پیغلو جماعت دی*
*امام یې نشته مخ په لمر ولاړې دینه*

*دا نو یوه بله احساس پارونکې لنډۍ ده چې د ګودر سره تړاو لري.))*

ګودر پښتو اوسني شعر ته هم په ښکلي شکل راننوتي او اکثرو شاعرانو په کې تلپاتې شعرونه ویلي دي.

ځوان شاعر ایوب فرهت وایي چې ګودر د کلیو ښایست دی نو ځکه شاعرانو هڅه کړې چې په څه نه څه شکل ګودر ته په خپلو شعرونو کې ځای ورکړي.

*((ګودر ځکه زموږ پښتو شعر ته لاره پیدا کړې چې دا زموږ د کلیو او بانډو ښایست دی. نجونې به په ډله ییزه توګه ګودر ته تلې او خپلو کورونو ته به یې تري اوبه راوړلې. نو په همدې توګه یې پښتو شعر ته لاره پیدا کړې، لکه یو شاعر وایي:*

*مور ته به څه بهانه کوې ته لا وړه یې ګلې*
*چې له اشنا سره دې مات کړو په ګودر منګی*

*نو دا چې ګودر د کلي ښایست دی شاعران اړ کیږي چې په خپلو شعرونو کې ورته ځای ورکړي»*

څرنګه چې پښتنې نجونې د کلتوري محدودیتونو له وجې میله ځایونو ته ورتلی نه شي، نو همدا ګودر د میله ځای په توګه لوی غنیمت ګڼي.

# اوس هم د ډولۍ رواج ژوندی دی

سریزه:

ډولـۍ د پښــتني کلتــور یــوه داسې نښــه ده چې ډیــرو پښــتنو میرمنو تــه بــه خپــل نــاویتوب وریــادوي او د ډیــرو پیغلــو پــه زړونــو کــې بــه د نــاویتوب ارمــان راټوکــوي. خــو پــه دې وروســتیو کــې د ډولــۍ ځــای ګــل پــوش مــوټرو نیــولی دی. اوس پــه ښــارونو ســربیره پــه اکثــرو کلیــو کــې د واده پــه مناسبت خلــک ناویــانې پــه مــوټرو کــې د خاونــد تــر کــوره بیــایي. خــو د افغانســتان پــه لیــرو پرتــو ســیمو کــې چېرتــه چــې د مــوټرو د تــګ لارې نــه شــته اوس هــم پــه کــې خلکو د ډولۍ رواج ژوندی ساتلی دی.

راپور:

***په بسم الله قدم را واخله شایسته ناوکۍ***

***وه پښتني ناوکۍ***

***الله دې مل شه***

دا سندره که له یوې خوا عمر خوړولو میرمنو ته د خپلو اولادونو د ښادیو یاد تازه کوي، نو بلې خوا به د ډیرو پېغلو په زړونو کې د ناویتوب د ارمان غوټۍ هم راټوکوي.

دا سندره به پخوا په داسې موقع ویل کیدله چې ناوې به یې د خاوند په کور کې له ډولۍ څخه ورښکښته کړه او قدم به یې ورواخیست.

ډولۍ د پښتنو په کلیو بانډو کې له پخوا نه رواج لري او اوس هم په ډیرو سیمو کې ناویانې په ډولیو کې د پلار له کوره د خسر کورته بیایي.

شاعر او لیکوال عزت الله ځواب چې د ننګرهار د روداتو ولسوالۍ سره تعلق لري د خپل کلي د هغه وخت خبره راته کوي چې په ډولیو کې به ناویانې له یوه کور نه بل ته بوتلل کیدلې.

***((له واده نه به یو ورځ مخکې د کلي ځوانانو تازه لښتې راوړې، په زانګو به یې د لیندیو په څیر وتړلې، بیا به یې پرې سور شال وتاړه او ډولۍ به یې ترینه جوړه کړه. ډولۍ پسې به ډله کلیوال روان وو که د ناوې او شاهو کورونه به سره نیږدې هم وو نو ډولۍ به ځوانانو پورته کړه او د ټول کلي نه به یې وګرځوله.))***

د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ د پاخه عمر یوه میرمن د خپل واده د ډولۍ خاطرې راسره شریکوي وايي چې دا یې هم په ډولۍ کې راوړې وه. سخته ویریدلې وه او په دې خاطر یې ژړل چې له ډولۍ څخه ګوزاره نه شي. دی وايي چې ډیر سرمست ځوانان شته چې ډولی یې په منډو کړي وي. چې کله کله ترینه لویږي چې بیا ترې ډیرې مسلې راپیدا کیږي.
دا میرمن وايي چې کله به یې له ناویانو سره په ډولۍ کې کاني او یا هم ماشومه جینی په دې خاطر کینوله چې ډولۍ وړونکو ته ناوې درنه ښکاره شي.
د جلال اباد ښاریو تن او سیدونکي عبداالهادي اثر وايي چې په ښار کې ناویانو ته موټر ګل پوش کیږي، شاهو په کې د خسر کور ته بیايي او بیا ورسره ناوې په موټر کې کینوي او د ښار په مشهور څلور لارې دوره ورکوي او بیا یې د خاوند په کور سپاري.
خو د ننګرهار د ښیوې ولسوالۍ سید حمید الله پاچا بیا وايي چې د دوی په کلي کې د ډولۍ رواج ځکه پاتې دی چې د کلي شاه وخوا اکثره کلي یې د موټر سرک نه لري. دی زیاتوي چې په ډولۍ پسې د کلي واړه، ځوانان او مشران په ډله روان شي او په ډول او

نغاره يې د خاوند کورته راورسوي.

ياده دې وي چې په ډېرو هغو سيمو کې چې اوس ورته د موټرو د تګ لاره پيدا شوې، د ډوليو ځای موټرو نيولی دی، خو د افغانستان په ليرو پرتو سيمو کې اوس هم ناوياني په ډوليو کې انتقالېږي.

# د پښتني کلتور کې
# د لوپټې ارزښت

لوپټه هم یو له هغو کلتوري ارزښتونو څخه ګڼل کیږي چې پښتني میرمنې یې له ماشومتوبه د ژوند تر وروستي پړاو پورې خوښوي او د لوپټې پرته ورته خپله جامه نیمګړې ښکاري، لوپټه له داسې اسلامي او پښتني اقدارو څخه ده چې له ښځینه پرته نارینه هم ورته په ډېر درنښت قایل دي.

د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي محصله مسعوده شینواري د لوپټې په کلتوري او اسلامي ارزښت راته وایي:
***«په افغانستان کې ډېر دودونه داسې شته چې له اسلام سره په ټکر کې نه دي چې یو هم له هغو سره د نجونو د حجاب دود دی چې دې ته په افغاني ټولنه کې خاص اهمیت ورکول شوی. دا حجاب په خپل ذات کې لوپټه ده چې د ښځو د یوه قیمتي جوهر په توګه اهمیت لري»***

د مرسل نوري په نوم یوه بله نجلۍ وایي چې لوپټه د پښتنو میرمنو داسې یو توکی دی چې د حجاب کار هم ځینې اخیستل کیږي.
***«لوپټې ته خو ښځې او زموږ خویندې په ډېر درنښت قایل دي، ځکه چې له ماشومتوبه د عمر تر وروستیو شیبو پورې ترېنه استفاده کیږي. دا د زنانه طبقې لپاره یو حجاب دی. که***

***چېرې زموږ له سرونو لوپټې لیرې شي، موږ ته به خلک په يوه بل نظر وګوري»ز***

او ځانګه جبارخیل وایي چې لوپټه یا ټیکری د عزت او ناموس ساتلو نښه هم ګڼل کیږي.

***«لوپټه چې ټیکری هم ورته وایي د افغاني مېرمنو عزت دی. د هغې د خاوند د ناموس ساتلو يوه نښه ده. موږ مسلمانان یو او بیا افغانان یو، موږ ته خپل کلتور ډېر مهم دی او زموږ په کلتور کې لوپټه، ټیکری، څادر او سالو ډېر ارزښت لري»***

ځوان شاعر رحمت الله زیارمل راسره د لوپټې په هکله د یوې ماشومې انجلۍ احساسات شریکوي.

***«کمعمره ماشومانې هم د دې تمه لري چې د جامو اخیستلو سره ورته لوپټه هم راوړو. او که چېرې یې رانه وړو، همغومره خپه کیږي لکه لویانې ښځې. د اختر د جامو لپاره ښار ته راغلم او د کور د نورو مېرمنو تر څنګ مې ماشومانو ته هم جامې اخیستلې، د یوې وړکې وریرې لپاره مې هم جامې واخیستې خو لوپټه مې ورته نه وه اخیستې. د خپلې مور ټیکری یې راواخیست او د اختر په ورځ یې په سر کړو.»***

شاعر او لیکوال ولي محمد کنډیوال د لوپټې په اړه په پښتو لنډیو کې روماني اړخ ته تم شوی.

***«دا به د لوپټې له ارزښت سره څومره اړخ لګوي، په دې***

***باندې خبره نه کوم خو يوازې هغه يادونه چې په لنډيو کې ده هغه دا ده چې***

***چېرته چې سره لوپټه وينم***
***يوه شيبه منډه له زړه پسې کومه***

***دا لنډۍ د نارينه لخوا ويل شوې ده، خو هغه لنډۍ چې د ښځينه وو لخوا ويل شوي دي، هغه تر نارينه هغو ډېرې قوي دي، مثلاً لنډۍ ده چې وايي:***

***په سالو سم راسره پټ شه***
***که سالو لنډه و پښې به زه راتولومه.»***

د يادولو ده چې د لوپټه ډېر مترادف نومونه هم لري، لکه پوړنی، ټيکری، څادر ، زړوکی او سالو هم ورته وايي چې معاصرو شاعرانو هم ورته په خپلو شعرونو کې ځای ورکړی لکه اروانباد سيف الرحمن سليم چې ويلي وو

خور شوی زړه مې پرې راټول غوندې شو
دا لوپټه راباندې چا خوره کړه

# د سپینو زرو بنګړي

د پښتني کلتور په ښځینه سینګار توکو کې یو هم د لاس کړۍ وه چې په لږ توپیر سره به په وښي، باهو او د سپینو زرو په بنګړي یادېدله.کلونه پخوا به د سپینو زرو همدې کړۍ د ناویانو د سینګار برخه جوړوله، خو اوس یې ځای په ډېر توپیر سره د سرو زرو بنګړو نیولی دی.

کله چې مو د یوې سپین سرې مور څخه د لاس د کړۍ په اړه وپوښتل هغې راته وویل:

« پخوا به د سپینو زرو بنګړي وو، ناویانو ته به یې په لاسونو کې اچول، باهو به یې هم ورته ویلو. قسم قسم غمي به یې په کې کارولي وو. نقشونه به په کې جوړ وو. مونږ به اچول. ټول مړونډ به یې نیولی و. خو اوس هغه نه شته. اوس خو د سرو زرو بنګړي رواج شوي.»

د رابعې په نوم یوه نجلۍ وایي چې د نیاګانو له وخته ورته همدا کړۍ پاتې دي او په ځانګړو مراسمو

کې یې له افغاني کالیو سره په لېچو کوي.

*«پښتوا چې زموږ نیاګانو کوم څیزونه استعمالول اوس موږ ته راپاتې دي، لکه وښې، ټیکه، د سپینو غاړکۍ، چې په ډېر ساده ډیزاین سره جوړ شوي او رقم، رقم غمي په کې کارېدلي، ډېر ښه ښکاري. اوس یې په ځانګړو مناسبتونو لکه ودونو او ملي ورځو کې له افغاني ګڼې/ جامو سره اچوو، دا ځکه چې دا زموږ کلتور ښیي.»*

د ثنا په نوم یوه بله نجلۍ وایي چې که څه هم اوس د سینګارتوکو بڼې بدلې شوي خو بیا یې هم خلک خوښوي:

*«دلاس کړې، ګوتمې او غاړکۍ په اوس وختونو کې بیا رواج شوي دي. که په افغانستان کې نه وي نو له پاکستان څخه یې ښځې راغواړي، خو اوس یې ډیزاینونه بدل شوي دي. اوس په کې په ماشین نقشونه جوړېږي او پښوا به په لاس په کې جوړېدل. زما هم ډېر خوښېږي، ځکه چې اوس یو موډ ګرځېدلی دی.»*

خو د فرېبه په نوم یوه بله نجلۍ ارمان لري چې د سرو زرو بنګړي دې ولري.

*«پښوانی کړې، خو له اوسنیو سره ډېر توپیر لري،*

*پښتوا به له سپینو زرو څخه جوړیدې او س له سرو زرو څخه جوړېږي او زه ارمان لرم چې د سرو زرو کړی دې ولرم چې ښایسته ډېزاین وي او رقم رقم غمې په کې وکاریدلې وي»*

یاده دې وي چې وښی، باهو او د لاس کړی چې پښتوا به د سپینو زرو څخه جوړیدل، اوس په تاریخی اثارو کې شمېرل کیږي او ځای یې د سرو زرو بنګړو نیولی، چې د ګرانی په دې دور کې ترښنه ډېری ناویانې محرومې پاتې کیږي.

# د ستمال يې راوړ

# ځونډي پرې پورې

## سریزه:

په پښتنی کلتور کې« د ستمال يې راوړ» داسې يوه اصطلاح ده چې له مخې سره د بنده پام د يوې نجلۍ کوم هلک ته په نوم کولو ته اړوي. په ځينو سيمو کې بيا همدا خبره داسې کوي چې ګوره يې ماته کړه، خو د افغانستان په ډيرو پښتني کليو کې د « د ستمال يې راوړ» اصطلاح د خپلوۍ او رشتې کولو لپاره کارېږي

## راپور:

په پښتني ټولنه کې د خپلوۍ په معامله کې لومړۍ د ښځو يوه مرکه د جينۍ د غوښتلو په خاطر ورځي او کله چې دواړه کورنۍ د خپلوۍ موافقه سره وکړي نو بيا د سړو يوه مرکه ورځي او د جينۍ له کوره د هلک په

نامه دستمال راوړي. په دې وخت کې د کور او مالت نجونې راټولېږي، چمبه را اخلي او دا سندره خامخا په ګډه سره وايي چې:

***«دستمال يې راوړ ځونډې پرې پورې***
***پرې بوره مه کړې د هلک مورې***
***دستمال يې راوړ.....»***

د ننګرهار د ښيوې ولسوالۍ يوه سپين سرې ميرمن نفس ګل ملکزۍ راته د هلک او جينۍ د رشتې جوړولو کيسه کوي.

***«زمونږ په کلي کور او قوم کې دا رواج دی چې کومه نجلۍ د چا خوښه شي، اول د ښځو يوه مرکه ورځي، بيا ورته د سپين ږيرو مرکه ورلېږي، کله چې دواړه کورنۍ موافقې ته ورسېږي، هلک يې خوښ شي او جينۍ يې خوښه شي، له هغې وروسته که څوک غواړي چې شيرين خوري وکړي، يا هم يوه عصريه جوړوي چې هغې کې د شيدو چای کلچې او يا هم ډوډۍ ورکوي چې په هغې کې د جينۍ کورنۍ د هلک هغو ته يو دستمال ورکوي چې له دې سره جينۍ د هلک په نامه شي.»***

د ارش په نوم د لغمان ولايت يو تن او سيدونکی

وايي: کله چې نجونې پېغلتوب ته نېږدې کیږي خامک یا ګلدوزي زده کوي.

***«لغمان کې داسې دود دی چې کله جینۍ پېغلتوب ته نېږدې کیږي، تر هر څه د مخه د خامک یا ګلدوزۍ هنر زده کوي. ځکه چې په راروان ژوند کې دغه خامک نجونو ته ډېر په درد خوري. کله چې چا ته په نامه شي، د شاهو لپاره یو دستمال په خپلو ګوتو جوړوي، ګلدوزي پرې کوي تر دې چې خپل او د خپل نامزاد نوم پرې لیکي. د مینې او محبت ځینې سمبولونه په کې کاروي. دا نو په کې بیا ډېر ضروري وي چې جینۍ په خپلو لاسونو په دستمال ګلان جوړوي او خپل نامزاد ته یې د مینې په نوم ډالۍ کوي.»***

د تورپیکۍ په نوم یوه نجلۍ چې د ننګرهار ولایت سره تعلق لري د دستمال په اړه وایي چې نجونې یې په خپلو لاسونو جوړوي او کله چې کوم هلک ته په نوم کیږي، بیا همدا دستمال هلک ته لېږل کیږي.

***«دستمال نجونې په کورونو کې په خپلو ګوتو جوړوي، ځینې په کې د خامک قسم قسم ګلان جوړوي، مرۍ په کې کاروي، غاړو ته یې د تیلې تار ګنډي. کله چې دا جینې چا ته په نوم کیږي، نو د خپل لاس جوړ کړی دستمال هماغه هلک ته ورلېږي چې دا***

***ورته په نوم شوې وي»***

د کونړ ولايت يو تن اوسيدونکی سليم چې تازه يې ورته دستمال راوړی، خپله خوښي راسره شريکوي.

***دوه اوونۍ کيږي چې ما ته يې دستمال راوړی، زما د کورنۍ غړي وايي چې په دې دستمال چې کوم ګلان جوړ شوي، دا ستا نامزادې په خپلو لاسونو جوړ کړي، اوس زه د دې دستمال د بر قدر کوم په پلاستيک کې مې بند کړی او په جيب کې يې ګرځوم زه اوس په دې دستمال د خپلې نامزادې تنده ماتوم او تر هغې به يې په جيب کې ګرځوم تر څو مې چې خپله چنغله تر کوره نه وي راوستې»***

ياده دې وي چې د دستمال رواج د افغانستان په اکثرو پښتون ميشتو سيمو کې له پخوا رواج لري او تر اوسه پالل کيږي.

# د ځوانان د نکريزو شپه

## سريزه:

دځوانانو دنکريزو شپه يو نوی دود دی، چې په وروستيو کلونو کې راپيدا شوی، دادود يوازې په پښتنو پورې اړه نه لري، ويل کيږي، چې په اردو ژبو ، هندي او دري ژبو ځوانانو کې هم رواج لري، دواده ترشپې يوه او يا دوه درې شپې مخکې يو ډوله ځوانان ، چې دواده زلمی پرې ګران وي، دنکريزو خاص لوبې، په بازارکې اخلي او شمعې په کې لګوي، دواده دخاوند کور ته يې وړي، بيا د واده خاوند او دده دوستان هلته دموسيقۍ په بدرګه دلاس کچۍ ګوته سره کوي، کله کله موسيقي د ټيپ او سي ډي په وسيله وي.

## راپور:

په پښتني ټولنه کې د ودونو په مراسمو کې داسې رسمونه له پخوا نه پاتې دي چې اوس هم پالل کيږي. په دې رسمونو کې يو هم په ودونو کې د نکريزو شپه ده چې درې لسيزې پخوا به د ننګرهار ولايت په بيلابيلو کليو کې د واده د زلمي له کوره يوه ډله ښځې او نجونې

د ناوې کور ته تلې د سندرو او اتڼونو په تر سره کولو به يې ناوې ته نکريزې پورې کولې.

خو په تيرو دريو لسيزو کې پېښور او شاو خوا سيموته په کډوالۍ ډيرو افغانانو يو لړ کلتوري بدلونونه هم له ځانه سره راوړي، چې يو هم په کې په ودونو کې د ځوانانو د نکريزو د شپې جوړول دي.

اوس په ودونو کې ډله ډله ځوانان د زلمي کور ته په ډول او نغاره ورځي، په نکريزو کې يې شمعې لګولې وي، نڅاوې کوي او يو يو د واده له زلمي سره کينې او په ګوته ورته نکريزې پورې کوي.

په جلال اباد کې د سنګر په نوم يو تن ځوان وايي چې د واده د زلمي خپلوان او نږدې ملګري د يوې مېلې په شکل راټولېږي، د نکريزو پروګرام جوړوي چې زما په نظر دا د ساعتېرۍ او خپل ملګري ته د خوښۍ د اظهارولو ډير ښه عمل دی.

د عرفان الله بيدار په نوم يو بل تن وايي چې په جلال اباد کې د يوه واده لپاره پنځلس، شل ورځې مخکې تابيا نيول کيږي، د واده د زلمي خپلوان او دوستان په نمبر، نمبر د نکريزو شپه جوړوي، دا په دې مانا چې د واده زلمي ته خپل اخلاص ښيي. مينه ښيي او د نکريزو

شپه یوه واده ته ډیره ښکلا وربخښي.

خو یو شمیر ځوانان بیا د دې رواج مخالفت کوي، له دې ډلې څخه یو هم نصیر مومند دی چې وایي پخوا به په ودونو کې نکریزې د هلک له کوره د جینی کور ته وړل کیدې، خو په دې وروستیو کې ځوانان د نکریزو شپې جوړوي چې زما په نظر دا رسم له هندوانو څخه راپاتی دی.

خو له دې هر څه سره سره اوس د جلال اباد ښار او شاو خوا ډېرو کلیو کې ځوانان تر واده د مخه د نکریزو شپه جوړوي چې د وخت په تېرېدو سره دې رسم پرمختګ هم کړی دی.

نکریزې په اول سر کې پانه پانه وي، د نکریزو پانه په خپل ظاهري شین والي کې د ښایست باطني سره هم لري. د نکریزو پانه شاعرانه ذوق ته عجیبې ښکلاوې وربخښي. د ناوې سره لاسونه، د اختر ورځ او یا پر نکریزو ټکور شوي لاسونه.

# چمبه

# د هر کور ضرورت دی

## سریزه:

چمبه چې په ډېرو پښتنو سیمو کې ورته داریا هم وایي، له زمانو راهیسې په هر کور کې موجوده وي، چې د لویو او وړو خوشحالیو په مناسبت یې د کور ښځې را اخلي او خپلې خوښۍ پرې نمانځي. په جلال اباد کې د مشال راډیو خبریال بازمحمد عابد د موسیقۍ په دې کورنۍ الې له څو تنو نجونو او میرمنو سره خبرې کړي او یو راپور یې پرې جوړ کړی او په داسې سندره پیلېږي چې له چمبې سره ویل شوې ده. په ګډه یې اورو.

## راپور:

***د خط لمنې***
***جانانه بیا دې جوړې کړې په درزي دي***
***د خط لمنې***
***جانانه بیا دې جوړې کړې په درزي دي***

د قندي کوچۍ د دې سندرې سره به ډېرو پښتنو میرمنو ته د خپلو ښادیو ورځې شپې ځکه وریاد بېږي

چې دا سندره له چمبې سره ویل شوې او چمبه د موسیقۍ داسې یوه اله ده چې له زمانو راهیسې اوس هم د پښتنو په کورونو کې ځانګړی ځای او مقام لري.

کله چې هم په کوم کور کې د ښادیو شپې ورځې راشي نو د کور او مالت نجونې مستي کوي، چمبه وهي او ټپې ورسره اچوي.

*ځان مې دا ستا لپاره جوړ کړو*
*د خط لمنې*
*تا د دادا په کور کې څه لیدلي دینه*
*د خط لمنې*
*جانانه بیا دې جوړې کړې په درزي دي*

د رخسار په نوم یوه نجلۍ وایي چې که په کور کې هلک پیدا شي او یا یې سر کلي وي، چمبه را اخلي او خپله خوښي پرې نمانځي.

*(( موږ کره چې هر وخت خوشحالي پیدا شي، ټول کور، خوېندې، ورونه سره راټولېږو او خپله خوښي د چمبې په وهلو نمانځو. او که چېرې کوژده، وي، کور کې هلک پېدا شوی وي او یا یې هم سرکلي وي، نو زموږ د پښتنو خو دا مراسم بیا داسې وي چې درې څلور ورځې په کې خوشحالي کوو، میلمستیاګانې*

***جوړوواو په دې موقع چمبه را اخلو او خپله خوشحالي کوو. ))***

چمبه يوازې ميرمنې او پېغلې نجونې نه بلکې وړې ماشومانې يې هم تماشه خوښوي، نهه کلنه فاطمه هم يو له هغو ده چې د چمبې له سازه خوند اخلي:

***(( زموږ کور کې چې کله خوشحالي وي، شاو خوا ټولې ملګرې را ټولېږي، دريا وهل کيږي او نجونې هغې ته ګډېږي، مونږه ترينه ډيره مزه اخلو. ))***

د پاخه عمر لرونکې شريفه احمدزۍ چې د لوګر ولايت سره تعلق لري او په ننګرهار کې ميشته ده، وايي چې چمبه د هر کور ضرورت دی.

***(( دلته ورته پښتانه چمبه وايي، موږ ورته په وطن کې داريا وايو. موږ اوس هم دا عادت لرو چې په هر کور کې چمبه ساتو. کله چې خوشحالي راشي، ميرمنې لاس کوي، چمبه را اخلي او ټيکۍ ورسره اچوي. ))***

دا چې چمبه له څه شي څخه جوړېږي، په جلال اباد ښار کې د ميرزمان په نامه چمبه جوړونکې او خرڅوونکی يې راته وايي.

***(( چمبه د اوزې له پوټکي او د چينار له څانګې جوړېږي، کله چې د چينار د لرګي نه په لمده کې تختې***

***وایستل شي، هغه بیا حلقه کوو، سریخ پرې وهو او د اوزې پوټکی پرې اچوو، اول یې د اور په واسطه سره کلکوو او بیا یې د دریو ورځو لپاره لمر ته ږدو.***

***ځینې چمبې د لاهور نه راوړو چې د هغې بیه تر ۳۰۰ روپو پورې ده او موږ یې چې پخپله جوړوو بیا تر یو نیم سل روپو پورې ووځي. اوس هم چمبه ښه بازار لري، ډېرې خرڅېږي، ځکه چې د هر کور ضرورت دی.))***

یاده دې وي چې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال چې په موسیقي اوربډو سخت بندیز لګېدلی و، په ښادیو کې به مېرمنو چمبې وهلې او خپلې خوښۍ به یې پرې نمانځلې

# شین چای

## سریزه:

تقریبا له یوې پېړۍ زیات وخت کیږي، چې شین چای پښتانه کاروي، ښایي په افغانستان کې موجودو دري ژبو ته هم له دوی سره یو ځای ورغلی وي، ځینې وایي دا بوټی له هنده د امیر شېرعلی خان د پاچاهۍ په وخت راوړل شوی او په افغانستان کې دود شوی، چې تراوسه دوام لري، دا یو ډول بوټي دی ، چې د دانو په بڼه په جوش اوبو کې اچول کیږي، او اوس په هره افغانه او په تېره پښتني کورنۍ کې موندل کیږي، ځینې خلک پرې دومره عادت شوي، چې فکر کیږي، یو عمل یې ګرځېدلی دی. ځینې وایي، چای طبي ارزښت هم لري، خو ځینې نور یې ډېر کارول دروغتیا په تاوان ګڼي.

## راپور:

په افغاني ټولنه کې شنې چای داسې یو دود دی چې له وړو نیولې تر زړو پورې نر او ښځې یې په شپه او ورځ کې څو څو وارې څښي.

شین چای ته په پېښور کې کاوه وایي چې بوره یا چینې په جوش اوبو کې ایشوي او بیا ورته د شنو چایو پاڼې وراچوي، خو په افغانستان کې ورته یوازې اوبه ایشول کیږي او د چایو پاڼې په کې اچول کیږي چې

ځینې خلک یې تریخ او ځینې یې له ګوړې او یا هم له چاکلېټو یا ټاپیانو سره نوش جان کوي.

شین چای د افغانستان له کلیو، باندو، د بړو او حجرو نیولې تر ښارونو او دفترونو پورې زیات رواج موندلی دی.

اختر ګلاب چې د ننګرهار د کامې ولسوالی اوسیدونکي دی وایي چې د بره یې د لارې په سر ده او هر وخت په کې د شنو چایو پریماني وي. دی زیاتوي چې هر لاروی چې په لاره تېرېږي نو دی ورته د چایو ست کوي او ډېرې اشنایانې یې د چایو له برکته جوړې شوي دي.

د بهسودو ولسوالۍ د ثمرخیلو کلي جان محمد چې په هر غم ښادۍ کې د سماوات تر شاه د چایو په جوړولو بوخت وي، وایي چې خان او غریب ته نه ګوري، خو په غم او ښادۍ کې یې د چایو خدمت ته ملا تړلي وي. دی زیاتوي چې شین چای ستړیا له منځه وړي او کله چې هم چا ته چای تیاروي، دی ترېنه ډېره مزه اخلي.

ګلاب خان چې د پښتونخوا د چارسدې سره تعلق لري او د روزګار په سلسله کې په جلال اباد د بره دی وایي چې شنې کاوه چای خوښوي او هغه هم چې د

رځـړو میتهـایي ورسـره وي. دی زیـاتوي چـې پـه جـلال ابـاد کـې شـنې تـریخ چـای رواج دی چـې اوس ورسـره دی هـم لـږ لږ عادت شوی دی.

د کـونړ ولایـت یـو تـن اوسـېدونکي احمـد سـمیر وایـي چـې شـنې چـای یـې دومـره خوښـې دي، چـې کـه لـه ډوډی وروسـته یـې ونـه څښـي نـو ډوډی یـې لـه مـری نـه ښـکته کیږي.

یـاده دې وي چې شاه وخوا یـو نـیم سل کالـه پخوا بـه پـه افغانسـتان کـې د ایګلیتهسـو یـا لاچـي ونـو پـاڼې خلکـو جوش اوبـو تـه اچـولې او خپلـه تنده بـه یـې پـرې سړوله. خـو د امیـر شـیرعلي خـان د واکمنـۍ پـر وخـت د لـومړي ځـل لـه پـاره ځینـې افغـاني سـوداګرو لـه هندوسـتان څخـه شـنې چـای افغانسـتان تـه راوړې چـې بیـا وروسـته لـه چـین، کینیـا ، اندونیشـیا او اوس لـه برازیـل څخـه پریمانـه شـین چای راوړل کیږي.

# اوربل

## سریزه:

اوربل چې څه نیمه پیړۍ د مخه د پښتنو ناویانو په زیوراتو کې یو لازمي جز و، اوس په قدیمي اثارو کې

شمیرل کیږي، خو د افغانستان په ځینو پښتون میشو سیمو کې اوس هم ښځې اوربې په غاړه ګرځوي.

د اوربې په اړه راپور په یوې سندرې پیلیږي.

## راپور:

***مینه له میني پیدا کیږي***
***ما ته ډډه اوربې جوړه کړه***
***شین غمی پرې کیږده***
***مرغلرې تر چاپېره کړه***
***لاس راکړه جانانه***

په دې سندره کې پښتنې میرمنې زرګر ته د اوربې جوړولو یوازې فرمایش نه ورکوي، بلکې د هرې پیغلې په زړه کې د ناویتوت ارمان هم راټوکوي، او دا ځکه چې څه نیمه پیړۍ د مخه اوربې د ناویانو په سینګار توکو کې دومره لازمې څیز و چې بې له هغې به د ناوې جوړه نیمګړې وه.

یوه سپین سرې مور مشال راډیو ته په یوې ځانګړې مرکه کې وویل چې د خپل واده په سینګار توکو کې یې اوربې هم لرله.

***«اوربې به له سپینو زرو جوړیده، لاندې به ورته ډنډرې پراته وو. غټ غټ مرغلین مزي به مو تاو کړل،***

***هغه به مو یوه کونډه او بله کونډه کې واچول، بیا به مو په غاړه اچوله او سینې پورې به کلکه نښتې وه. داسې شکل به یې و، لکه د درې، څلور شپو میاشت چې راختلې وي د سپینو زرو روپۍ به ورته لاندې په زنځیرونو کې پرتې وې. ما ته یې هم په واده کې اچولې وه. د کومې ناوې چې به اوربل نه وه نو بیا به خلکو ویلې چې اوربل یې نه شته، غوټۍ یې نه شته. ما ته مې خوابنې خپله راکړې وه خو بیا د غریبۍ له وجې خرڅه شوه.»***

د ولسي جرګې پخوانۍ غړې او شاعره صفیه صدیقي وایي چې اوس هم د افغانستان په یو شمیر سیمو کې اوربل رواج لري.

***«اوربل په مختلفو ولایاتو کې په مختلفو ډولونو ځینې استفاده کیږي اوربل د افغانستان په شمالي ولایتونو کې چیرته چې پښتانه میشت دي، په تیره بیا په جنوبي ولایتونو کې اوس هم رواج لري او اوس چې په بازارونو کې په مصنوعي بڼه جوړیږي، زه ورته خوشحاله یم او. زه ورته د کلتوري ارزښت په توګه د قدر په سترګه ورګورم، ځکه چې زه یوه شاعره یم ما تري په خپلو شعرونو کې هم استفاده کړې ده.»***

د ځانګې جبار خيل په نامې يوه ځوانه انجلۍ وايي چې پخوا يې اوربۍ نه پيژندله خو اوس يې چې پيژندلې ارمان لري چې له افغاني کميس سره يې يو ځل په غاړه واچوي.

شاعر او ليکوال اباسين يوسفزی چې په خپل کلي کې يې د ښځو په غاړه اوربۍ ليدلې وې وايي چې د هرې غاړې لپاره به ځانګړې اوربۍ جوړيدله.

*«اوربۍ زموږ د زنانه وو د کالو، زموږ د زنانه وو د زيوراتو يو اهم ځيز و. اوربۍ به چې کله په غاړه کې ښکاريدله، نو له هغې نه به په مختلفو وختونو کې مختلفې شغلې راوتې، په لمر کې به يې يو رقم شغله کوله، په رڼا کې به بل شان ښکاريدله او د سپوږمۍ په رڼا کې به يې بيا يوه عجيبه شان رڼا کوله نو دهاغه وخت کالي چې دي زما ډېر خوښيدل، اوس هم ما ته کله ياد يږي، زه چې کله په بازار کې د انتيک په دوکانونو کې دا ځيرونه وګورم، زه پرې ډېر خپه شم کاش چې دا اوس هم زموږ خوښدو مېندو استعمالولی.»*

اوس هم د افغانستان په ځينو کليو کې د اوربيو نمونې پيدا کيږي. په جلال اباد ښار کې د سپينو زرو يا چانديو يو تن زرګر چې بريال احمد نوميږي، وايي چې

له کليو نه ورته خلک د سپينو زرو جوړ سينګار توکي د خرڅلاو له پاره راوړي او له دغه څخه يې خلک بهرنيو هيوادونو ته وړي.

*«د سپينو زرو کار کوم له خلکو يې اخلو، بيا يې ترميم کوو. څه همدلته داخل کې خرڅوو او څه را څخه خلک بهر ملکونو ته وړي. دا شيان موږ ته له کليو نه کوچيان راوړي چې زموږ بيوپاران دي. موږ سره دا سې د سپينو زرو سينګار توکي هم شته چې اتيا کاله، سل کاله او حتی تر يو نيم سلو کلونو پورې عمر لري. ځينې څيزونه خلک د موزيم له پاره وړي، ځينې بهر ملکونو ته لکه کاناډا، لندن، جرمني او نورو ته ورل کيږي.»*

ياده دې وي چې اوس هم د پښتني کلتور سينګار توکي چې له سپينو زرو څخه به جوړېدل د افغانستان په کليو او باندو کې پيدا کيږي چې بيوپاران يې راټولوي او په څه نه څه شکل بهرنيو هيوادونو ته لېږدول کيږي چې هلته بيا د انتيک په بيه پلورل کيږي.

# د چيندرو لوبه

*پــــه ساعت کې مې ژړلي*
*په ساعت کې مې خندلي*
*چـــې په ځان نه پوهيدلي*
*زه هــــــــمغسې وړه وای*

ســـندرغاړې نغمـــې پـــه دې ســـندره کـــې د وړوکـــوالې دا
ارمـان پـر ځـای کـړی دی. اوس هـم پـه کليـو او بانـډو کـې

ماشوماني نجوني چيندرو ګاني کوي، د ګوډيانو لوبې کوي، په بامونو خېژي او په ديوالونو د کرښيو لوبه کوي. خو ډېرې داسې لوبې چې پخوا به ماشومانو نجونو کولې، اوس په ډېرو سيمو کې د هېرېدو په حال کې دي، خو د چندرو لوبه د افغانستان په ډيرو کليو او بانډو کې اوس هم ماشوماني نجونې په ډېره علاقمندۍ سره کوي.

دا چې د چندرو لوبه څنګه تر سره کيږي، د نبيلې په نوم يوه ماشومه نجلۍ چې په دريم ټولګي کې زده کړې کوي راته وايي:

***(( اول مونږ د چندرو لپاره ځمکه جاروکوو، بيا د ثلورو خطونو منځ کې پنځه خانې جوړې کړو چې يکه، دوکه، درې که ثلورکه او پنځه که ورته وايي. په دوه او يا ثلور جينکو دا لوبه کيږي ګالی په نمبر سره اول په اوله خانه کې، بيا په دويمه او همداسې تر پنځمې پورې په يوه پښه ورځو. په منځنۍ خانه کې دمه کوو او ګالی بيا په مزه مزه له يوې خانې بلې ته بيايو، کله چې ګالی د کومې خانې په کرښه راشي. نو بيا هغه تن وسوزي (اوت) شي.))***

د زکيه په نوم يوه بله نجلۍ وايي چې د ښوونځي او

کور له کاره چې اوزګاره شي، نو په چندرو خپل ساعت تیروي.

خو د نادیه په نوم یوه بله نجلۍ وايي چې دومره یې د چندرو لوبه خوښه ده چې که خپله یې کوي او که نورې نجونې یې کوي دی ترې خوند اخلي.

خو یوه بله جینۍ وايي چې کله یې د چیندرو لوبه لګولې وي او مور ورته غږ وکړي، غوسه ورځي.

یاده دې وي چې د چندرو لوبه د افغانستان په ټولو سیمو کې په څو بڼو ترسره کیږي او د هر کلي او بانډې ماشومانې نجونې په ډېر شوق سره د چیندرو لوبه کوي.

# د سپېلنو لوګی

سپند
بلا بند
د شنو سترګو بلا بند
په اوبو کې د ماهيانو
په هوا کې د مارغانو
په ځمکه د پيريانو نظر بند
دا د داسې يوه ماشوم له حنجرې راوتې سندره ده چې هر سهار د جلال اباد ښار په بيلابيلو برخو کې دوکان په دوکان ګرځي، د خرڅلاو لپاره لګېدلو توکو

ته سپېلني لوګی کوي او له همدې لارې یوه څه پیسې لاس ته راوړي.

د افغانستان په کلیو بانډو کې له پخوا راهیسې خلک سپېلنې د نظر ماتي په خاطر لوګی کوي.خو اوس دا کلتور تر ښارونو هم راغځېدلی دی.

د جلال اباد ښار یو دوکاندار حاجی دلاور وایي چې د سپیلنو لوګی کول یو رواج ګرځېدلی، کومه شرعي بڼه نه لري.

***«سپېلني، مانوا او یا نور چې خلک یې لوګی کوي یو رواج او تهوتکه ده چې له پخوانو خلکو راپاتې ده. کومه شرعي بڼه نه لري او دا اوس چې په بازارونو کې دا ماشومان ګرځي او سپېلني دودوي، څوک ورته د زړه سوي په خاطر یوه روپۍ ورکوي، او څوک یې په عقیدوي لحاظ ورکوي چې ګوندې په کاروبار کې یې زیاتوالی وشي»***

د بي بي هوا ښوونځي د دولسم ټولګي یوه زده کوونکي حلیمه ولیزاده وایي چې د ضرورت په وخت کې له خپل چم ګاونډ څخه خځلې راټولوي او له سپېلنو سره ګډ یې لوګی کوي.

***«کله چې زموږ کور کې کوم ماشوم یا کوم زلمی د***

*نظره کيږي، موږ د خپلې کوټې نه خځلې او خاشاک راټولو او ناروغ ته يې له سپيلنو سره ګډ لوګی کوو. دا د دې لپاره چې که هغه نظرباز زموږ په چم ګاونډ کې وي نو په هغو خځلو به يې پښې لګېدلې وي، نو ځکه ورته خځلې لوګی کوو. چې نظر يې مات شي»*

شاعر او ليکوال عزت الله ځواب بيا وايي چې پخوا به د نظر ماتي تر څنګ خلکو سپېلني د کوټو د وږم د بدلېدو په خاطر هم لوګی کول:

*«پخوا به د سپرې او خوشبويانو امکانات نه و. په ليرو پرتو سيمو کې به خلکو د دغې سپيلنو او مانوګانو د لوګي نه کار اخيسته. په کوټو کې به يې په دې خاطر لوګی کول چې د کوټې وږم بدل کړي. د نظرماتي له پاره هم کارول کيږي. همدا رنګه چې د کومې کورنۍ د پېرغړي به په يو ځای راټول شول نو د کورنۍ مشرې ښځې به د سپيلنو لوګی کولو، ځينو ورته خولۍ نيولې، ځينو به ورته پګړۍ نيولې او ځينو به پرې هم لمنې نيولې. او دغه دود تر اوسه پورې په سيمه کې شته دی»*

زلمی شاعر بختيار ساحل بيا وايي چې پښتو شعر ته د سپيلنو او نظرماتي مضمون په ښکلې بڼه راننوتی

دی.

***«حمزه بابا په يو بيت کې وايي چې:***

***قربان دې له ليمو نه بلا سترګې درپسې دي***

***محـــفل ته چې راځې له سپيلنو سره راځه***

***حمـزه بابـا پـه دې بيـت کـې د خپـل محبـوب د ښـکلا ستاينه کـړې، ورتـه وايـي چـې سـتا ښـکلا دومـره ډيـره ده که محفل ته راځې نو خامخا ځان ته سپيلني لوګی کوه.»***

د پښــتو لنـډۍ يـا ټپـه چـې زرګونـه کالـه عمـر لـري، د دې مضـمون خـوارۀ يـې لـه يـوه نسـل څخـه بـل تـه سـينه پـه سـينه رارسـولې او د پښـتو سـروکو خونـد او رنـګ يـې ورزيـات کـړی دی.ځکـه خـو پـه ډيـرو سـرکو کـې هـم د مـاښو او سپيلنو په هکله لنډۍ هم ويل شوي دي.

« مورې ماښو ورته لوګی کړه

شايسته ناوکۍ، وه پشتني ناوکۍ، الله دې مل شه

زيارت ته تللې چا به يې مخ ليدلي وينه

شايسته ناوکۍ، وه پشتني ناوکۍ، الله دې مل شه»

دا چـې د سـپېلنو د لـوګي پـه اړه شـريعت څـه حکـم کـوي دا پوښـتنه پـه جـلال ابـاد کـې د حضـرت صـفا ابـن بيضـا جـامع جومـات خطيـب مولـوي عبدالبصـير بصـيرت دا رنګه ځوابوي:

***«دا کومه نښه خبره نه ده چې بعضې خلک د بد نظر لپاره سپیلني یا بل شی لوګی کوي. مونږ په دې عقیده لرو چې خیر او شر ټول د الله تعالی له اړخه دی. د نظر بهترینه دفع چار قل سورتونه دي، هره شپه باید له ویده کیدو د مخه په ځان وویل شي، له هر افت نه به یې الله تعالی ساتي.»***

یاده دې وي چې سپیلني د پسرلي په موسم د غرونو په لمنو کې خود رویه راشنه کیږي چې ځینې خلک یې دانې په کورونو کې ساتي او د ضرورت په وخت یې لوګي کوي.

# د نذر رواج لا ژوندی دی

## سریزه:

نـذر یانذزانـه داسـې یـو رواج دی چـې لـه پېړیـو را پـه دېخـوا یـې پښـتنې مېرمنـې تـر اوسـه پـالي، د نـذر بهیـر داسـې تـر سـره کیـږي، چـې د کـورنۍ کومـه ښـځه د یـوه ارمـان پـه خـاطر نـذر منـي او پـه ټاکلې ورځ پـرې خپلـوان او د چـم ګاونـډ ښـځې راټولـوي. او د ارمـان د پـوره کیـدو لـه دعـا سـره یـې خـوري. نـذر پـه ډیـرو سـیمو کـې د غټـو

وریجو او پېو څخه جوړېږي. د نذز له خوړلو وروسته بیا هره ښځه د خپلې وسې سره سمې پېسې په قاب یا پلېټ کې اچوي چې دا پیسې بیا د یو بل نذر په منلو سره مصرفېږي.

## راپور:

نذر یا نذرانه په پښتني ټولنه کې داسې یو دود دی چې له پخوا څخه رواج لري او اوس یې هم پښتنې مېرمنې پالي.

د پښتنو په ډېرو سیمو کې د یوه ارمان د پوره کېدو او یا هم د یوه ناروغ د روغتیا په خاطر د کورنۍ یو تن په ځان نذر مني او د ارمان د پوره کېدو په خاطر خپلوان او ګاونډیان راټولوي او هغه منل شوی نذر په ګډه سره خوري.

دا نذر په ځینو سیمو کې له غټو وریجو او شېدو څخه جوړېږي، او په ځینو ځایونو کې پرې بیا خېرلی حلالوي او وینه یې د ناروغ ماشوم پښو کې تویوي.

د شمشاد په نومېد د پاخه عمر یوه مېرمن چې د حصار شاهي په کېمپ کې استاده ده، او په ډېرو نذرونو کې یې برخه لرلې، مشال راډیو ته د نذر په اړه

څه دا رنګه وویل:

***«کله چې په کور کې مریض پیدا شي، نو د کور غړي یې هڅه کوي چې په څه نه څه طریقه دا مریض ښه شي. چې ډاکټر ته یې بوزي هغه ورته دوا ورکړي او مثبت تاثیر پرې ونه کړي نو بیا چې د هرې لارې وي چې خدای دا ناروغ او س ښه کړي نو بیا پرې خامخا نذر مني. د قرآن شریف ټکي پرې تلاوت کوي او بیا وایي چې خدایه دا خیرات ستا په نوم ورکوم. په دې امید سره چې دا ناروغ به مو ښه شي. او یا دا چې زما په سر چې کوم مثیبت راغلی، دا را نه لیرې کړي»***

د افغانستان په ځینو ځایونو کې ښځې را ټولیږي، او یوه مشهور زیارت ته سره ځي او هلته په ګډه منلی شوی نذر سره خوري. نوموړې مېرمن چې څه وخت یې په مزار شریف کې تېر کړی، وایي چې هلته ښځې زیارتونو ته نذرونه وړي.

***«ما ډېر عمر په مزار شریف کې تېر کړی دی. هلته به مې په شاه ولی والله کې لیدل چې ښځو به زیارتونو ته پوښونه راوړل، هغه به یې پرې هوارول، په یوه غټ دېګي کې به یې پیسې اچولې، له ډېرو لېرو منطقو نه به ورته ښځې راتلې، چا به یوه زانګو ځوړند کوله او دا***

***په دې مانا چې که خدای زوی راکړي او هلته د پېر زيات زياتونه هم دي چې په بېلابېلو مناسبتونو کې ورته نبځې ورځي.»***

يوه بله مېرمن وايي: کله چې هم نذر ومني نو بيا پرې خپلوان او ګاونډيان راټولوي او د شير برينج يا د وچې اوه رنګه مېوې له چايو سره د نذر په توګه خوري او د ناروغ د روغې ستې دعا کوي:

***« هر کال په اخره چارشنبه کې موږ نذر نيسو. بزرګه مياشت کې هم نذر منو. کله چې د نذر د خوړلو ورځ راشي بيا پرې خپلوان او ګاونډيان راټولوو او شير برينج، يا مالوده مو پخه کړې وي، هغه په ګډه سره خورو. او يا هم د سخي صاحب په په نوم اوه رقمه وچه ميوه له چايو سره رابلل شويو مېلمنو ته ږدو. او هر څوک چې دا نذر وخوري بيا د خپل وس سره سم يو څو روپۍ په پلېټ کې اچوي، په دې پيسو بيا يو بل نذر منل کيږي.»***

خو په افغانستان کې بيا ځينې هاغه مېرمنې چې لوړ تعليمونه يې کړي ، د نذر په شمول په ډېر شګومونو باور نه لري. له همدغسې مېرمنو څخه يوه هم د افغانستان په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو

استازې فرښته انوري هم ده. نومـوړې د نـذر پـه حقلـه مشال راډيو ته وويل:

*«پـه افغـاني ټولنـه کـې دا معمـول دي چـې د نـذر ورکـول، د نـذر نيـول او يـا د نـذر منـل ډيـره مروجـه خبـره ده خو زه د دې شـي ډيـره مخالفـه يـم، ځکـه چـې دا شـي نـه پـه اسلام کـې شته، نـه پـه قرآن کـې شته. تـر هـر څـه مهم، تـر هـر څه لوړ او تر هر څه اړين د خدای ج عبادت دی او بس.»*

نـذر پـه پښتني فلکلـور او ولسـي سـروکو کـې هم ډيـر ځلـه راغلـی دی. پښـتو لنـډۍ چـې زرګونـه کلونـه عمـر لـري د نـذراني يادونـه پـه کـې شـوې ده او پښـتو شعرونو تـه يـې هـم لاره مونـدلې ده. د نـذر پـه کلتـوري ارزښت چـې مـو کلـه د کابـل پوهنتـون د ژبـو او ادبيـاتو پـوهنځي اسـتاد لال پاچا ازمون وپوښت، هغه په ځواب کې وويل:

*«کلـه چـې د ولـس لـه غبـرګ يـو څـه راپورتـه کيـږي، شـاعر بـه همغـه انځـوروي يـو پـه دې برخـه کـې د نـذر او نـذراني خبـره ده. د کـوم ارمـان پـه مقابـل کـې چـې کومـه فـداکاري ښـودل کيـږي، د هغـې نذرانـه همدغـه نـذر دی چـې زمـوږ شـاعرانو پـه شـعرونو کـې را اخيسـتی دی. انګيـزه يـې لـه ملـي نظمونـو څخـه ده. لـومړني ښستونه يـې ملـي نظمونـو ايښـي دي. چـې هغـه زمـونږ پـه چـاربېتو،*

***غزلو، لوبو ، بدلو او خصوصاً په لنډيو کې نذر ډير ياد شوی دی»***

ياده دې وي چې په ځينو کليو ، بانډو او ښارونو کې د نذر بهير داسې تر سره کيږي چې د نذر خوړلو وروسته هر ه ښځه له خپلې وسې سره سم په قاب يا پليټ کې پيسې اچوي چې ورتـه ولې شوې پيسې بيا د يو بل نذر په منلو سره مصرفيږي.

# واسکټ د پښتنو زینت

لکه پښتنې مېرمنې په خپل لباس کې پوړنې ته تر هر څه زیات ارزښت ورکوي، داسې یې نارینه په خپل لباس کې واسکټ ته ډېر ارزښت ورکوي.

واسکټ له تنکي زلمیتوبه تر زړښته پورې پښتانه په خپله جامه کې خوښوي. او د پښتنو داسې یوه نښه ده چې که د هر چا په تن وي د پښتون ګمان پرې کېدی شي.

سره له دې چې اوس په ننګرهار کې ګرمي اوج ته رسېدلې او هر چا پورې خپلې جامې اوړ شوې خو په

جلال اباد کې په مشرانو سربېره ځينې ځوانان هم واسکټ په تن ګرځوي.

يو تن ځوان چې محب الله نومېږي او په سخته ګرمۍ کې يې واسکټ په تن کړی، وايي چې بې له واسکټه ورته ځان بد ښکاري.

*«که څه هم ګرمي ده او سړی نه شي کولای چې له جامو پرته بل څه په تن وګرځوي. خو بيا هم زه واسکټ په تن ګرځوم، ځکه زما ډېر خوښېږي چې درنه جامه ده، زينت هم ورسره د سړي په ځای وي او دغه راز ډېر جيبونه لري او بله دا چې واسکټ د چا په تن وي سړی ورسره درونډ ښکاري. يوازې زه نه، چې په جلال اباد کې ډېر ځوانان واسکټ خوښوي او دا ځکه چې دا د پښتنو دود دی.»*

ځوان شاعر طاهر ځلاند چې د کار په سلسله کې په کابل دېره دی وايي چې کله هم جلال اباد ته راځي نو له خپلو کالېو سره واسکټ اغوندي.

*«که څه هم زه په کابل کې وظيفه لرم، خو کله چې هم ننګرهار ته د راتلو نېت وکړم، نو د پنجشنبې په ورځ له جامو سره واسکټ اچوم. ځکه چې زه ننګرهار ته راځم او ننګرهار يو سوچه پښتني ماحول دی. پښتانه چې*

***واده یې هم وي نو د سپینو جامو سره تور واسکټ خامخا کوي. او ما ته چې د غم ښادۍ د نمانځلو موقع په لاس راشي، خامخا له وینځل شویو جامو سره واسکټ اچوم.»***

په جلال اباد ښار کې د محمد هاشم په نوم یو تن ګنډونکی وايي چې په سلو کې نوي تنه چې جامې ګنډي نو واسکټ هم ورسره جوړوي.

***«واسکټ یو ملي لباس دی. په تېره د افغانستان په دې دریو ولایتونو کونړ، لغمان او ننګرهار کې ډېر زیات استعمالېږي. او موږ هم ورسره د ښه اخلاص نه کار اخلو، په مناسبه بیه یې ورته جوړوو. فعلاً څلور ډیزاینه واسکټونه موږ جوړوو. یو ته یې یخندار یا بینډ وايي، بل ته ګول وايي او بل ته هاف وايي او څلورم یې د دریشي سره جوړېږي. اوس د پخوا پر تله واسکټ ډېر خلک جوړوي. په سلو کې اتیا یا نوي تنه له خپلو جامو سره واسکټونه هم جوړوي.»***

د یادولو ده چې یوازې په ننګرهار کې نه بلکې، د افغانستان په پښتون میشتو سیمو او دغه شان په لره پښتونخوا کې واسکټ د پښتنو د کلتور برخه ګرځېدلې چې په ښه شان سره پالل کیږي.

# مازيګر

د شپې او ورځې په دوران کې ماريګر داسې يو مهال دی چې د پښتو لنډيو / ټپو کې تر بل هر څه زيات ياد شوی او اوس هم پښتو شعرونو کې جوت مقام لري.
په مازيګر کې نجونې ګودرونو ته او ځوانان په کې ميله ځايونو ته ځي او د ساعتېرو بنډارونه جوړوي. دا لنډۍ او ښکلی مهال اوس هم پښتو شعرونو کې هر شاعر کارولی او تر څو چې شعر او شاعري وي، د مازيګر له ذکره به خالي نه وي.
شاعر او ليکوال ولي محمد کنډيوال وايي چې

ځومره د مازيګر وخت لنډ دی، هومره په پښتو ادب کې اوږد عمر لري.

*«همدغه مازيګر دی چې ډېر مينان يې د وعده په توګه کاروي. مينانو لپاره ځکه د ډېر اهميت وړ دی چې په مازيګر کې به نجونې ګودرونو ته تلې. له همدې امله يې پښتو ادبياتو کې ځای نيولی دی. همدې تاريخي ريښې ته په کتو سره مازيګري زموږ په کلتور او ادبياتو کې يو ځانګړی ځای لري. شاعران يې په خپلو شعرونو کې ببخې ډېر يادوي. که وويل شي چې د پښتو شعر کې چې کومې کليمې ډېرې يادې شوې نو د ګوتو په شمار کليمو کې به يو هم مازيګر وي.»*

د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي استاد ببرک مياخيل وايي چې له مازيګر نه په پښتو شعر کې د يوه انځور په توګه کار اخيستل کيږي.

*«زه خپله چې کله هم د مازيګر نوم اورم، ماته ګودر مخې ته درېږي، ماته منګی ذهن ته راځي او ما ته د نجونو هغه کتارونه مخې ته راځي چې منګي په سر يا منګي په ترخ کې به ډله ډله د ګودر په لور روانې وې. او ما به په زلميتوب کې ليدل. خو اوس بد بختانه ګودرونه يو څه ساړه شوي او ځای يې لاسي بمبو نيولی*

*دی. ځکه اوس د ګودرونو نښې یو څه کمې ښکاره کیږي. خو په پښتو ادب کې د مازیګر اغېزلا په خپل ځای پاتی دی. له دې نه د یوه سمبول او یوه انځور په توګه کار اخیستل کیږي او زموږ په پښتو شاعرۍ کې یو جوت تاثیر او اغېز لري»*

نقیب احمد اتل هم په مازیګر کې د نجونو د ګودرونو او د ځوانانو د بنډارونو خبره کوي.

*«دغه وخت کې به جینکۍ ګودر ته راتلې، او موږ ځوانان به ګودر ته څېرمه په یوه لوړ کنډو ورته بنډار جوړ کړی و. د نجونو ګودر ته تګ به یو خوند لرلو او زموږ د ځوانانو بنډار به بل خوند لرلو. ما خپله هم په ځینو شعرونو کې ګودر یاد کړی دی چې:*

*مازیګر دی ښېرا مه کړه یو بې څوکه خوار اتل یم*
*ډېر وېرېږم له ازاره زړه مې سترې کیږي*

*نو زه فکر کوم د مازیګر په نوم کې یو کیف او خوند پروت دی. ځکه خو یې شاعران په خپلو شعرونو کې یادوی او پښتو شعر کې یې ځای خپل کړی»*

نادر دانش وایي چې مازیګر هغه مهال دی چې د ورځې ستړیا په کې دمه کیږي.

*«د مازیګر په وخت کې مزدور له کاره ستړی راځي،*

***بزګـرلـه کرونـدې ستړی راځـي، دغـه هاغـه وخـت دی چې ورځ تـه د پـای ټکـی ایښـودل کیـږي. هـر څـوک د یـوې لـنډې دمـې پـه توګـه دغـه وخـت تـه تـم کیـږي. د مـازیګر انځـور ځکـه شـاعرانو ډیـر کـارولی دی چې مـازیګر د دیـدنونو وخت دی او وعدې په کې پوره کیږي»***

په بې شمېره پښتو ولسي سندرو کې مازیګر ته ځانګړی مقام ورکړل شوی، میرمن قمرګله هم په یوه سندره کې د مازیګر یادونه څه دا رنګه یادونه کوي.

***ما مینتوب لیدلی نه و***

***ګل وروکی***

***د مازیګر اوبو ته تلم میینه شومه***

***موري***

***که راته راکړې سور سالو په سرومه***

***موري***

کـه څـه هـم اوس پـه ډیـرو پښـتون مېشـتو سـیمو کـې مـازیګري سـاړه شـوي، د نجونـو ګوردونـو تـه تـګ کـم شـوی او ځوانـان هـم د پخـوا پـه څېـر بنډارونـه نـه جـوړوي، خـو پښـتو شـعرونو کـې اوس هـم د مـازیګر مهـال هماغـه پخـوانی ارزښـت لـه ځانـه سـره سـاتلی او تـازه دم شـاعران یـې هـم پـه خپلـو شـعرونو کـې لـه انځورونـو څخـه استفاده

کوي.او له دې هر څه سره سره مازيګريو مذهبي او اسطوريي تقدس هم لري، ځکه خو دا لنډۍ د ډېرو په خوله وي چې:

مازيګرۍ دې ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رښتيا به شينه

# فال

## سریزه:

فال کتل داسې یو دود دی چې له پخوا نه پښتنو سره راروان دی او په ډېرو سیمو کې اوس هم پالل کېږي. اوس هم یو شمېر پښتانه د رحمان بابا په اشعارو فال ګوري، اوس که فال کتوونکي په بازارونو کې ډېر نه تر سترګو کېږي، نو ګڼ شمېر فال کتوونکې ښځې په کورونو ګرځي او د نالوستو ښځو فالونه ګوري او په بدل کې ترېنه پیسې اخلي.

## راپور

سره له دې چې پښتانه د اسلامې عقایدو لرونکي دي، خو یو شمېر داسې دودونه هم پالي چې شریعت کې جواز نه لري. په دې کې یو هم د فال کتل دي چې اکثره ښځې پرې باور لري او

دخپل ژوند د راتلونکې په اړه فالي ته د خپلو لاسونو کرښې ورښيي.

د نسيمې سيد په نوم يوه ميرمن وايي چې نالوستې ښځې له يوې مخې د فال کتوونکو په خبرو باور لري.

***« هغه ښځې چې بې سواده دي، کورنۍ ښځې دي، هغوی په فال عقيده لري مثلاً يوه ښځه راځي، د هغوی د لاسونو کرښې ګوري، هغوي غولوي او په مقابل کې ترې پيسې اخلي. لکه څنګه چې يو روانشناس د خلکو قوارې (شکل) ته ګوري او روحيات يې مالوموي. په همدې توګه فال کتوونکي ښځې هم کورنيو ښځو ته داسې خبرې کوي چې د هغوی د خوښې وړ وي»***

د رښا قادري په نوم يوه ميرمن چې د نجوم علم يې لوستی او د لاسونو د کرښو په پيژندلو کې مهارت لري وايي چې هټلر به د خپلو لاسونو له کرښو څخه خپل ملک کنټرولاوه.

***« يوازينې کس چې په کف شناسي پوهيده، هغه هټلر و چې د خپل ملک چارې به يې د خپلو لاسونو له کرښو تنظيمولې. خو اوس ډېر ځوانان شته چې فال کتوونکو ته ورځي او ورته وايي چې ته زما د لاسونو دا کرښې وګوره چې زما په نصيب کې دا جينۍ شته او که نه، چې فال کتوونکي دا توانمندي نه لري دا هر څه په تعليم او کوشش سره کيږي»***

میرمن قادري زیاتوي چې د فال کتل یې زده دي، خو له ځانه پرته د بل چا فال نه ویني.

***«ما په پاکستان کې پوره لس کاله د نجوم د علم مطالعه وکړه. زه اوس کولای شم چې د لاسونو له کرښو د خپل ژوند راتلونکي احتمالي خوښي او غم یو څه مالوم کړم خو چا ته حال نه وایم. خو نور فال کتوونکي چې ما ته وایي چې ستا په تقدیر کې یې دا لیکلي نو زه پوهېږم چې دروا غ وایي.***

-میرمن قادري، تاسو نورو خلکو ته هم فال ګورئ او که څنګه؟

***زه نورو خلکو ته فال نه ګورم، ځکه چې زما کورنۍ او دوستان زما په فال کتلو باور لري او زه هغوی نه شم خپه کولای»***

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد لال پاچا ازمون بیا په دې باور دی چې د فال کتلو کلتور له هندوانو څخه پښتنو ته ورپاتې دی:

***«د رحمان بابا په اشعارو باندې به خلکو فال نیولو، د یونس په اشعارو چې د رحمان بابا پېرو شاعر دی خلکو به پرې فال لیده. کله چې د هندي سبک پېروان دلته پیدا شو، تک و راتګ زیات شو، نو دا د فال کتلو طور و طریقه دلته راولېږدول شوه. پخپله په ذاتي صورت کې د پښتنو په وجود کې دا شی نه شته. او نه یې په کلتور کې دومره موجود دی. تاسو ګورئ چې په ښارونو کې د سرکونو په غاړه چې څوک***

***هم فال ګوري، هغه پښتانه نه دي، د نورو ځايونو څخه راغلي دی او فالونه ګوري چې اکثره يې په کې هندوان دي»***

د ننګرهار پوهنتون د حقوقو پوهنځي استاد منګل شيرزاد فال کتل د نالوستو خلکو د باور سره جفا ګڼي

***«ځينې کسان چې د ولسونو له سپيڅلتيا نه غلطې استفادې کوي، هغه دا فال کتوونکي دي. البته د نجوم علم شته چې د ځينو آلو او اسبابو په ذريعه يو څه کارونه ترسره کوي، خو ځينې هغه کسان چې په کورونو ګرځي او فالونه ګوري او زموږ نالوستې ښځې غولوي چې مثلاً ته به دومره زامن راوړې، تاسره به ميړه دا سې سلوک کوي او ستا بخت به ډېر ښه وي ته به خوشبخته يې، دا هغه څه دي چې له اسلام سره اړخ نه لګوي. دا يو غلط کلتور دی چې په دې جامعه باندې حاکم دی»***

د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور ريس اورنګ صميم فال کتل يو ناوړه دود ګڼي او وايي چې زموږ د خلکو عقيدې او اقتصاد کمزوري کوي.

***«موږ کلتورونه په دوه ډوله ويشو چې يوه ته يې منلي او بل ته يې نامنلي وايو. هغه چې منلي دي هغه زموږ په ګټه دي او هغه چې نامنلي دي، هغه زموږ اقتصاد ته ضرر رسوي، هغه زموږ ټولنيز شخصيت ته ضرر رسوي او هغه زموږ کلتور ته***

*صدمه رسوي چې له دې جملې څخه یو هم د فال نیول دي. دا یوه خرافاتي عقیده ده چې زموږ زیات ځوانان د دې ښکار کیږي زما له علماء کرامو څخه دا هیله ده چې د دغسې خرافاتو په وړاندې خپلې فتواګانې وړاندې کړي»*

د یادولو وړه ده چې پخوا به د جلال اباد ښار په بیلابیلو چوکونو کې د سرکونو په غاړه فال کتونکي ناست وو او د طوطیانو په ذریعه به یې د ځوانانو د ارمانونو د راتوکیدو په خاطر فالونه کتل، خو اوس ګڼ شمېر ښځې په کورونو ګرځي او د کورونو دننه د ښځو فالونه ګوري او له دغې لارې په زرګونه روپۍ لاس ته راوړي.

# په ننګرهار کې
# د ولور ځای ګل نیولی

## سریزه:

د خپلوۍ یا رشتې په معامله کې چې کله د هلک کورنۍ ته د انجلۍ د کورنۍ له خوا د ستمال ورکول کیږي، نو په یوه پتنوس یا شکور کې یې په ښکلي ډول ګل جوړ کړی وي چې د هلک کورنۍ د خپلوانو په ګډون په ګل کې د خپل وس مطابق پیسې اچوي چې هغه پیسې بیا د کوژده شوې انجلۍ برخه وي

## راپور:

د ننګرهار په یو شمېر سیمو کې د خپلوۍ یا رشتې په معامله کې اوس د ولور ځای ګل نیولی دی.
ګل چې په یوه نوي شکور یا پتنوس کې په ښکلي ډول جوړ شوی وي او یوې وړې ډولۍ ته ورته شکل لري، د انجلۍ د کورنۍ له خوا د هلک کورنۍ ته د د ستمال ورکولو پر وخت

کېښنو دل کیږي، چې د هلک کورنۍ په کې د ولور په ځای د خپل وس مطابق پیسې اچوي.

د پاخه عمر لرونکي زرغونه چې د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ سره تعلق لري او له ډېرو کلونو راهیسې په جلال اباد ښار کې اوسېږي، وایي چې په ګل کې اچول شوې پیسې د نجلۍ برخه شي.
***«پخوا به ولورو چې د هغه وخت او زمان چې څه پیسې وې، د هلک پلار ته به د نجلۍ پلار ویلې چې دوه لکه، یو لک یا پنځوس زره روپۍ به راکوي. خو اوس دا رواج دی چې د خپلوۍ په معامله کې دستمال ورکوي، نو په هغه پتنوس کې چې ګل ایښې وي، هغه ګل چې د هلک کورنۍ اخلي، نو په پتنوس کې ورته د خپل وس مطابق پیسې اچوي چې دا پیسې د نامزادې انجلۍ شیریني وي چې بیا یې په خپل جهېز لګوي»***

څانګه حبار خیل چې د حصارک ولسوالۍ څخه ده او اوس په جلال اباد کې اوسیږي خوشحاله ده چې د ولور ځای ګل نیولی دی.
***«پخوا به چې یې کومه نجلۍ چاته په نوم کوله نو د هلک او انجلۍ پلرونه به سره کیناستل او په ساعتونو ساعتونو به یې دا جنجال کولو چې دومره پیسې به راکوې، د هلک پلار***

***به ویلې چې زه دومره وسه نه لرم خو د نجلۍ پلار به تېنګار کاوه چې هر څنګه وي دا ولور به راپوره کوې. خو اوس د نجلۍ لخوا یو ګل د هلک کورنۍ ته ورکول کیږي چې ګل تهوکره ورته وایي، نو د دغه ګل په بدل کې د هلک کورنۍ د خپل اقتصادي حالت ته په کتو سره په پتنوس کې د نجلۍ لپاره برخه اچوي»***

د مرسل نوري په نوم یوه بله نجلۍ وایي چې په کومې نجلۍ چې ولور اخیستل شوی وي، د خاوند په کور کې یې ژوند تریخ وي.

***«اوس چې د ګل دستې رواج نوی نوی رامنځته شوی، زما په خیال ډیر ښه رواج دی. ځکه چې په کومو جینکو چې ولور واخیستل شي، د خاوند په کور کې یې ژوند ډیر تریخ وي. نو که چیرې دا رواج دود شي، زموږ خوېندې به په خپل راتلونکي ژوند کې ډیرې خوشحال وي»***

یو تن شاعر او لیکوال امین الله زهیر تمه لري چې په ټوله پښتونخوا کې د ولور ځای ګل ونیسي.

***« د ګل اخیستلو په وخت کې د نامزاد د کورنۍ تر څنګ د هغوی خپلوان او عزیزان ورځي او د ګل ورکولو په وخت کې په پتنوس کې د نجلۍ لپاره برخه اچوي. په دې کار سره یو خو د ولور هغه کلچر له منځه ځي او بل دا چې دغه پیسې د نجلۍ***

***برخه وي چې هغه پرې بیا د خپل واده له پاره د خپلې خوښې سینګارتوکي اخلي.»***

د ذکر وړ ده چې د ننګرهار ولایت د بېلابېلو ولسوالیو خلک چې په دې وروستیو کلونو کې جلال اباد ښار کې د ېره دي، او یا هم هغه سیمې چې ښاري کلتور یې خپل کړی اکثره یې د خپلوۍ یا رشتې په معامله کې د دستمال ورکولو پر وخت د ولور پر ځای ګل ته ترجیح ورکوي.

# ۳۹ شمېره

په افغانستان کې د ۳۹ شمېره له پخوانه د عامه ذهنونو په وړاندې د اخلاقي فساد په جرمونو ککړو خلکو ته کارول کېږي او اکثره خلک د دغې شمېرې څخه بد ګڼي. د موټر په نمبر پلېټ کې یې نه خوښوي او د خپل موبایل له پاره داسې شمېره نه اخلي چې په سر او یا اخر کې یې ۳۹ راغلې وي.

په جلال اباد ښار کې د عبدالقیوم امیني په نوم د موبایل سیم کارتونو یو تن پلورونکي وایي چې هغه سیم کارتونه ورباندې ټول کوټه شوي، چې په سر، منځ او اخر کې یې یاده شمېره راغلې وي. نوموړي وویل:

***«موږ ته چې د موبایلونو له کمپنۍ نه یو سیټ یا زر عدده سیم کارتونه راشي نو هغه موږ پسې ثبت شي. په دې کې په سلګونه داسې سیم کارتونه هم وي چې په سر، منځ یا اخر ته یې نهه دېرش شمېره راغلې وي. له موږ نه دا سیم کارتونه هیڅوک نه اخلي. کمپنۍ یې هم***

*بېرته له موږ څخه نه اخلي، او س ما سره په سلګونه داسې سیم کارتونه پراته چې د ۳۹ شمېرې له وجې رابانديې کوټه شوي دي، حکومت باید داسې وکړي چې د ټولو کمپنیو کوډونه دې ۳۹ کړي چې ټول خلک مجبور شي چې په سیم کارتونو کې له دغې شمیرې څخه بد ونه ګڼي.»*

د تورخم کابل د لویې لارې یو تن ډریور مسعود چې د موټر د نمبرپلېټ په سر کې یې ۳۹ شمېره راغلې، وایي چې اکثره مسافر هم ورسره په موټر کې د تللو له پاره زړه نه ښه کوي.

*«زما د موټر د نمبر پلېټ په سر کې ۳۹ راځي. کله چې په هلته کې خپل وار ته موټر ودروم، نو سورلی را سره په دې خاطر زړه نه ښه کوي چې نمبر پلیټ مې نهه دېرش دی. په ښار کې چې تېرېږم د نهه دېرش غږ راپسې کیږي. څو ځلې مې له خلکو سره جنګونه هم پرې کړي دي، څو جوړه جامې مې په کې شکېدلي دي. اوس مې د مجبورۍ ورځې نه موټر په کور کې درولی دی.»*

دعامه ذهنیت دې مسلې هغه وخت زور واخیست چې د لویې مشورتي جرګې د ځلوېښتو کمېټو څخه یوه ۳۹ راغله، نو دې کمېټې له دغې شمېرې له اخیستلو

نه انکار وکړو، د جرګې چارواکو هم د دوی غوښتنه ومنله په ۳۹ شمېره یې چلیپا کش کړه او پر ځای یې یو ځلوېښتمه شمېره ورکړه.

کله چې د لویې جرګې د ۳۹ کمیټې استازو احتجاجاً دغه شمېره رد کړه، نو په هماغه سهار په امریکا کې میشت افغان شاعر او ژورنالست په انټرنیټي پاڼې فېسبوک کې په خپل پروفیل ۳۹ ولیکل او له نورو ملګرو یې هم په دې ټکو غوښتنه وکړه:

که غواړئ پخپلې ټولنې کې د خرافاتو په وړاندې یو وړوکی او د خپل وس سره ګام پورته کړئ، نو راځئ د احتجاج په ډول خپل د پروفایل تصویرونه ۳۹ وټاکو.

په همدې ورځ په سلګونو افغان ځوانانو خپل نوم سره خواکې د تصویر په ځای ۳۹ ولیکل.

فواد لامع مو د ټیلفون په کرښه وپوښته چې څنګه ورسره دا احساس پیدا شو. هغه راته وویل:

***«کله چې د هیواد مشرانو په لویه جرګه کې د ۳۹ شمېرې څخه انکار وکړ نو دغه خرافاتي مسلې ته یې ناخود اګاه مشروعیت ورکړو. دا خرافاتي مسله یې یو ډول رسمي کړه. ما له ځوتنو دوستانو سره په دې هکله***

***مشوره وکړه او هغه څه چې د دې خرافاتو په وړاندې زما له وسه کیدل هغه دا وو چې زه دې په خپل فیسبوک باندې د تصویر په ځای د نهه دېرش شمېره ولګوم او له نورو دوستانو هم وغواړم چې دا شمیره دومره ډېره شي چې بلاخره خلک یې بد ونه ګڼي»***

کله چې مو دا خرافاتي مسله د جلال اباد ښار د یوه جامع جومات خطیب قاري اسماعیل مخې ته کیښوده هغه مشال راډیو ته وویل چې له ۳۹ شمېرې څخه بد ګڼل د ناپوهو خلکو کار دی.

« که دې ته نظر وکړو نو سړی په دې ګناهګاربږي هم، ځکه د الله تعالی په نومونو کې هم یو ***نهه دېرش*** دی. د نبي کریم «ص» په نومونو کې هم یو ***نهه دېرش*** راځي. د قرآن کریم په ایاتونو کې هم ***نهه دېرش*** ایات راځي. په حدیثونو، سورتونو او صحیفو کې هم ***نهه دېرش*** شمېرې راځې. دا یوه غلطه افواه ده. دا د خلکو د ذهنونو یو غلط تعبیر دی. په دې سړی ګناهګاربږي.»

یاده دې وي چې د تیر یوه کال راهیسې په کابل کې شخصي موټرو ته د نمبر پلیټ په ورکولو کې سر ته د ۳۹ شمېره راځي. خو د یوې ناتایید شوې سروې له مخې په جلال اباد کې

زرګونه داسې شخصي موټرې ولاړې دي چې ګمرکي محصول يې کړی خو د ۳۹ شمېرې له وجې ورته نمبر پلېټ نه اخلي